# په پښتو ناسم

# بللو ویونو ته

# او ..

لیکوونکی:

ډاکتر ماخان (میرزی ) شینواری

2019

Ketabton.com

جرمني د بن ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| سریزه | ۳ |
| لومړۍ برخه | ۴ |
| ننوتنه | ۴ |
| د نومونو پیداکول | ۴ |
| زما بیلاري | ۶ |
| سم اند یا منطق | ۷ |
| لیکنه د ژبپوهنې لهلارې | ۱۰ |
| ژبه څه شیدي؟ | ۱۰ |
| پښتو ژبه | ۱۱ |
| زما دا لیکنېڅنګهشونې وې؟ | ۱۲ |
| زموږ لیکنې | ۱۳ |
| زما جنجال له تاسو سره | ۱۴ |
| د ژبې پوهنیزه کیدنه | ۱۴ |
| په پښتوکې پوهنې څنګه شونې دي؟ | ۱۵ |
| نومه ونې او د ویونو په پښتوکونه | ۱۵ |
| د ویونو یا نومونوپیدا کونه | ۱۸ |
| ایا داسې څه به وي؟ | ۱۹ |
| ور سره بلد نا پوهوړ | ۲۰ |
| په پښتوکې ده لرلواوویونو انډول | ۲۱ |
| د دباندنۍ ژبې ویونو ...زما تجربه: ،،،،،، | ۲۱ |
| د پښتو انډول .................... | ۲۲ |
| د ویونو پښتو بللوسره نو څه | ۲۳ |
| دویمه برخه | |
| د نه په پښتوبللشوو نومونو او | ۲۴ |
| اوبلن | ۲۴ |
| اورغورځونه اواوربهیدنه | ۲۸ |
| کچه | ۲۹ |
| لومړۍ: ستاندارد یا | ۲۹ |
| دویم: نیووNiveau | ۳۰ |
| دریم: نورم Norm | ۳۰ |
| څلورم: سطحه ( هواره) | ۳۱ |
| کچول نو څه ته وایي؟ | ۳۱ |
| ( فزیکي) لویې څه شی دی؟ | ۳۱ |
| څه تکرار: | ۳۵ |
| پوله (برید): | ۳۷ |
| غبرګون | ۴۰ |
| سلمه اونه سلنه | ۴۳ |
| ،، ئ ،، ته اړتیا شته او په .... | ۴۵ |
| د ډېر درانه استاد غظنفر لیکنې | ۴۶ |
| دریمه برخه | ۴۹ |
| په نور ژبو کې شته اوپښتو انډول یې | ۴۸ |
| پوهنیز نومونه: | ۵۰ |
| Reflexionانعکاس یا(بیرته) راګرځید | ۵۱ |
| جفت او طاق ته په پښتوڅه وایي؟ | ۵۴ |
| ستونځوبی | ۵۵ |
| معنې: | ۵۶ |
| ایا موږپیداپښتې پوهنې په پښتو | ۵۶ |
| څلورمه برخه | ۵۹ |
| د ژباړې له پاره یوه ننوتنه | ۵۹ |
| شمیر پوهنه څه شی دي؟ | ۷۱ |
| د ډاکتر ماخان شینواري لیکنې: | ۷۳ |
| د لیکوال ژوند ته لنډه کتنه | ۷۸ |


 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سریزه

د کتاب په لومړۍ برخه کې به وهڅېږو روښانه کړو، چې څه په پښتوکیدی شي اوڅه همهغسي بایدوي.
۱ - څه چې پیداښتي وي، د زیاتوله پاره په ژبو کې انډول شتون لري، لکه د مایع له پاره بهیدونکی لرو. ځانګړني شته: لکه قطب
۲ - هغه نمونه چې د کسانوپه نامه یادیږي، هغه نه بدلیږي. لکه الخهایور یا څلزیوس.
۳ – داسې څه شته، چې ودې سره منځ ته راغلې وي، نو د هغو لهپاره بیا باید نومونهونه لټوو، هغه هم په همهغه نوم یادوو، لکه معیار
دویمه برخه ( چې بنسټیزه موخه مې همدا ده) کې هغه څیړو، چې موږورته لا په پښتوکې څه نه کارو، دا سې نه لیکم، چې څه نه لرو. دلته چې څه نومونه زموږد لیکوالانوله خوا خوښ شوي، ناسم دي.
دلته دي دې ته پام وي، چې څه ته نوم ورته لټوو، باید ځانونه پرې وپوهوو، چې د کوم ویونوبرخه جوړوي اوبیا ورسره په اړونده توګه مخ ته ځو.
دریمه برخه کې به وڅیړو، چې ایا موږ پوهنه څنګه په پښتوکولی شواو دا شونتیا شته او که څنګه؟
څلورمه برخه مې د ،،ژباړې ته ننوتنه،، راوړي،چې زیات څه همدا زموږ د موخې سره په کې راغلي. دا ټولې خوندیونې سره اړیکې لري.

زما په اند دا یوائځنی لیکنه ده،چې زه له تاسوټولوسره په کې مخامخ یم یا یې نوره هم: ښه دا لیکنه ستاسود ټولو د لیکنو مخامخ ده، نوله دې امله هم باید ولوستل شي اوستاسو همغږي، یا مخامخوالی دې هم همداسې وي، لکه زما لیکنه.

یوه یادونه: هر څه چې سره څیړو، باید په سم اند اوژبلارو باندې ودانوي.

راځۍ، چې ژبه موسره په ګډه د تخریب څخه وژغورو.
موخه سمون دی اوبیا هم موخه سمون دی.

له ما سره اړیکې:

Smakhan1946@gmail.com

هیله ده چې ستاسود ډېرو کوتنیونو اوکوتڅنډنو( ؟) سره بهمخامخ شم، چې زه همبیا بل ځل دا سم کړم، چې زما له لورې ناسم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړۍ برخه

## ننوتنه

له هرڅه د مخه د ټولو لوستونکو څخه بخښنه غواړم او هیله ده، چې راته برګ نه شي او دا ولولي، ځکه موږټول دا ناسمونونه کاروو اوزیات یې بیخي کورني یا ورځني شوی هم دي. په دې هکله ما څو کلونه دمخه هم په ن ج کې لیکنې کړي. زه هڅیدلی یم، چې د هر ناسمون له پاره پوره بنسټيز دليلونه راوړم، خو بیا هم انسان د ناسمونو سره مخامخ کیږي، چې تاسو مخ له مخه راته بخښنه وکړۍ.

ګرانو هیوادوالو!

موږ پوهیږو، چې پښتو که څه هم ډېره پخوانۍ، خو په دولتي څلوردیوالي کې نوي، نږدې شپیته کلنه ژبه ده، نو له دې امله یې علمي کول او د ځنو ویونو په پښتو کول یا ورته پښتو اندول پیدا کول هم ستونځمن دي. له یوې خوا موږ چې څه زده کړي یعنې زموږ ټوله زده کړه هغه په پښتو نه ده او له دري ژبې مو را اخستې او له بلې خوا په دا دري ژبه مو چې څه زده کړي، هغې هم ډېر ویونه (لغات) له عربي رانیولی، چې موږ یې له دې امله د ډېلو ستونځو سره مخامخ کړي یو. زموږ دا نږدې شپیته کاله مخکنیو په پښتو لیکونکو، څه له فارسي رانیولي، هغه په فارسي کې د عربي ویونه یې هم ورسره شاید ( یاممکن) کټمټ رااخستلي وي یا را اخستې دي. بله پوښتنه دا هم ده، چې هغه عربي نومونه چې موږ یې د پښتو نومونو لپاره کاروو، ایا دا سم کارول کیږي او که څنګه؟

دا هم بله پوښتنه ده، چې پام ورته باید وشي.

## د نومونو اوویونو پیدا کول:

زموږادیبان، چې غواړي د یوه څه په پښتو پرې نه پوهیدلي څه یا نوم له پاره یوڅه په پښتو پیدا کړي، نووایي، چې داسې لنډ، ښکلی، داسې او هغسې وي.

زما په اند په ژبه کې ښکلی او نا ښکلی نه شته یا په ژبې کې دواړه شته.

پوښتنه:

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایا هغه څه چې په نوروژبوکې شته زموږ په ژبه کې هم انډول لري؟

هو.
هغه څه چې پيداښتي وي، پهپښتوکې ورته هرومرو انډول لرو.
نو ولې موږ ځنو شيانو ته نومونه نه لرو؟
دا ځکه چې موږ نه يو هڅيدلي، چې پښتو ليکنو کې د دباندنيو پوهنيزو ويونو له پاره يې هه انډولپښتوپيدا کړو. هغه د باندنيوويونو سره بلد يو او پهپښتو دا ليکني د لومړي ځل له پاره کويا کيږي. بله دا چې پښتو انډول ورته پيداکوو،دا پوره ستونځمن دی او هغه دبلې ژبې وی خو همدا اوس مخته لرو.
ما چې د لومړي ځل ه پاره کره په پښتو انډول ليکله،نوغونډی يا همداسې اړوند به مې وباله،که څه هم پوهيدم، چې د الماني په پښتو انډول يې غونډوسکه يا غونډاری دی، خودا جرآت مې نه لاره.ماته هم عجيب برېښيده او له بلې خوا په نوروژبويا نه پوهيږو او يا مو پام ورته نشته يا يې له پامه غورځوو.

يوه بيلګه به راوړو:
فزيکې لويې چې په څه کچيږي هغې ته موږ تل په پښتو کې واحد(زيات يې: واحدونه) ويلې.
دا ناسم دی. واحد په عربي کې يوه ته وايي. د دې له پاره چې هغه سم نوم پيدا کړو، بايد يا په عربي ښه وپوهيږو او يا دا په يوه بله ژبه يا نوروژبوکې وګورو، چې پرې پوهيږو، پرته له دې پرې پوهيدنه ناسمه وي.

دا نوپه انګرېزي اوالماني کې څه بلل کيږي؟
انګرېزي کېunite او الماني کې die Einheit بلل کيږي، چې پښتواړوند يا پښتو انډول يې يووالی دی، دا په دې مانا چې يووالی دی او بس، خوما په خپلوليکنوکې د شميرپوهنې اړتياو له پاره يوون بللی، نوپه دې فکر چې يوون، که يووالی.
دا ګوره عجيب او غريب برېښي، خو که ځان مو له دې سره داسې څو واره بوخت کړ، باورلرم، چې ورځنی کيږي.
واحد ناسم دی اوعربي سم يې وحدة دی، چې د پښتو انډول يې همغه يووالی دی.

هغه نومونه اوخويونه، چې په پښتوکې تراوسه نه وي ميندلي، نو زموږ پښتانه پيداښتي ده، چې هغو ته نومونه بايد پيداکړي، خو ستونځه په دې کې ده، چې په نورو پرمخ تللو ژبووپوهيږو.
د هر څه له پاره، چې په پيداښتي ډول په بله ژبه کې نوم يا وی وي، نوپه پښتوکې هم ورته انډول شته

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګه:
زموږ ادیبان د عربي مایع اوبلن بللي، چې سم یې بهیدونکي دي او دا د شیانویو ټولګی دئ. وروسته څیړل شوی.

که چیرې په پرمختللو ژبو کې د یوه وي ( لغات) په هکله کوم معلومات غوښتل کیږي، نو په شمیروني ( کمپیوتر) کې سړی کړی شي د هغه وي په هکله پوره روښانه ونه د لاسه کړي. وبه ګورو، چې دا څو معناوې لري، چې موږ یې بیا هغه ځای اړونده معنا ترې اخلو.
زه هم دلته هغه د الماني ژبې په بنسټ وداني راټولوني تاسو ته وړاندې کوم یا له تاسو سره شریکوم، چې په یوه څه داسې لږ پوره وپوهیدلی شو، چې ګران لوستونکي بیا د پوره معلومات له پاره پخپله هم د یوې پرمختللي ژبې د لغات کتاب کې دا ښه کتلی شي.

ګورو، چې یو ناسم څه ژبې ته ساده ننوځي او ترې را وتل بیا پوره ستونځمن کار دی.

که موږ هرڅه لیکو یا هرڅه تازه ژبې ته راننباسو، باید په دلایلو ودان وي، یعنې نوي څه. یو څه که زموږ لپاره نابلد وي او پرې پوهیدنه باندې یې شک ولرو، هغه دې بیا نه کاروو. داسې ویل کیږي، چې داسې کارونه باید دولتي څلوردیوالی کې وشي، خو ...

# زما بیلاری

ګرانو لوستونکو!

زما د لیکنوژبه به لږ ځګه وي اوتاسو هم حق لری، چې ما ته پوره برګ شئ، خو هیله مې ده، چې ویې لولئ.

اوس داسې ده چې ټول ملګري په هغه بنسټ لیکنو یعنې سیاست بوخت دي او زه هم یا ورڅخه خوند اخلم او ډېرو ته یې زاړم، چې ربښتیا هم د ژړا دي. ما له وخته د ځان سره پټیلي، چې همدې خپلو لیکنوته نوره هم وده ورکړم، چې دا کار بې له ما څخه بل څوک نه کوي، یعنې بل څوک دومره وخت نه لري او یا پخپله هم په دې ناروغتیا اخته دئ، نو له دې کبله یو ځایي لیونی وي اوزه د ولس لیونی، چې ټول خلک په یوه لار روان دي اودا زه ترې بې لارې یم.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اوس خوسوچ بوچ ليونی کارکوم، چې دا زموږ ليکوالانو منځ ته راوړي اولږ ترلږه ورځني شوي ويونه او نومونه ورسره نه منم اوپه مخامخ يې ودرېږم.

زما په اند زموږ ليکوالان او ټول پښتانه، اوبلن، کچه، پوله، او ان تر غبرګون پوري ناسم کاروي او زه خپل مخامخوالی د ژبې او سم اند په بنسټ ګران پښتانه دې ته رابولم، چې د پښتو هرڅه دې په خپل ځای کې وکارول شي.

که زه دا کارهم ونه کړم، نو بيا د غرو او رغوليونی کيږم.

زه هم په ژبه کې د هر نوښت پلوی يم، خو دا مو د ناسمونونو لور ته بايد لارښود نه کړي.

تاسو به زما د شميرپوهنې ليکنو سره مخامخ شوي ياستئ، چې د ځلورګوډئ، پنځه ګوډئ اوولاړګوډئ غږيږو.

دا څو بيلګي د فزيک څخه هم ستاسومخ ته ږدم، چې څومره نا بلدې دي اوورته هک پک به شئ اويا به ورته ښه وخاندي.

څو بيلګې:

(برېښنا) بهيدنه، (برېښنا) وړوني، (برېښنا) نه وړوني او هغه په ګوته کې چې ګروپ مړ کوي اوبلوي، (برېښنا) تړوني. دا يې خويونه دي، چې د همغې له مخې مې نومولي او همهغسې نومولي، لکه په هره ژبه کې.

د هغه څه له پاره چې په بله ژبه دي موږورته اندول پيدا کوو،خود يوه کار مخه بايد نيولشوي وي او هغه دا چې ويونه ناسم ونه نوموو، چې زموږ د دې ليکنې موخه همدا ده.

دې ته به بيا وروسته داسې لږځغلند ستاسو پام راوګرځوم.

## سم اند يا منطق

بې له سريزې. لرو:

الف- د کابل هوا په دې دوه ورځوکې.

ب – دوه ورځې د مخه کابل کې ورينګي يا ورښت ورېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ دا د ب- برخي باندې غږیږو، چې دا د سم اند دنده ده.

موږ د ویناوسموالي او ناسموالي باندې غږیږو، نو له دې امله په سر کې منطق اوپه ځانګړي توګه د شمیرپوهني سم اند څخه یو څه وړاندې کوم.

وبه کورو، چې په پورته کې الف- وینا نه ده او ب – وینا ده.

سم اند څه شی دی؟

منطق یا نور هم ښه شمیرپوهنیز سم اند د وینا سره سر اوکارلري.

یادونه: دا چې زما رینښه شمیرپوهنه ده، نو له دې امله به مې اندخرګندونه هم په دې بنسټ وي او زما په اند به وهڅیږم، چې هر څه تاسو ته سم اندیز وړاندې کړم .

وینا څه شي دي؟

راځئ، چې له هرڅه د مخه لومړی د (شمیرپوهنې) سم اند یا منطق په بنسټ ،،وینا،، تعریف کړو:

پیژند: وینا د ویونو یا کلمو موخه وره ځنګ په ځنګ( ،،ځنګ تر ځنګ،، نه!!!) ایښوونه ده، چې یو ،،ریښتیا ارزښت،، رښتیا یا نا رښتیا لري.

بیا: یوه وینا یو ،، رښتیا ارزښت ،، رښتیا یا نارښتیا لري. دا په دې مانا چې دا وینا یا رښتیا ده او یا نارښتیا.

که ووایو، چې: نن د کابل دښار د هوا حالات. دا وینا نه ده، ځکه موخه وره نه ده او ،،رښتیا ارزښت،، رښتیا یا نارښتیا نه لري.

که ووایو، چې: نن کابل کې ورینګي (باران) وریږي. دا وینا ده، ځکه موخه وره ده او یو رښتیا ارزښت رښتیا یا نا رښتیا لري، یعنې یا به ورینګي وریږي، چې رښتیا ارزښت يې رښتیا دی او یا به ورینګي یا باران نه وریږي، چې رښتیا ارزښت يې نارښتیا دی.

پورته جمله ویلای شو: نن په کابل کې ورینګي وریږي. په کابل کې نن ورینګي وریږي. ورینګي وریږي نن په کابل کې او یا...

د سم اند له مخې دا ویناوې دي . ویونه موخه ور سره ځاي په ځای شوي، خو دا چې ژبه يې څه ډول لیکنه غواړي، دا بیا بله خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمله یا نوره هم ښه وینا لرو: ،، استبدادي نظام د تل لپاره نسکور شو،،. دا ویناده، ځکه چې ،،رښتیا ارزښت،، رښتیا یا نا رښتیا لري.

دا چې دا ،، استبدادي حکومت،، به بیا راځي او که نه ، د دې سره یې موږ سر او کار نه لرو. دا د یوه کس اند دی او ځرګند یې کړ.

دوه مبین سره وایي: زه او ته به د تل لپاره سره یو ځای یو یا زه او ته به تل سره یوځای یو، دلته په یواځې تل کې هم موخه د تل لپاره ده او نه هغه د پولې تل پورې. یا تر تل پورې. دلته د تل لپاره سړی وایي، خو تر تلپورې بیا هغه وخت ویل کیږي.، چې پوښتنه د کوم وخت پورې وي، یعنې د پولې موخه- که څوک غواړي - ترې جوته شي، نو بیا د .. . د تل وی راځي، یعنې د تل پورې یا تر تله کارول کیږي

خبره د ،،تل لپاره ،، او،، تر تل،، کې ده، چې ،، تر،، یې بیا لږ ډېرې پاملرنې ته اړتیا لري.

دوه څه ته ګوته نیول شوې:

لومړی داچې یوه جمله( یا ښه یې: وینا) د ګرامر له لارې سمه ده که نه؟

یادونه: جمله یا غونډاله اوکه غونډله په سم اند کې وینا ته ویل کیږي، چې ښوونې ته اړتیا لري، خو دلته به دا جمله هم د وینا له پاره ونیسو.

دویم دا چې دا جمله له واقعیته لرې ده، که نه؟

هغه څه چې موږ دلته ورته ګوته نیسو د ژبې په بنسټ ده، د واقعیت سره یې سر او کار نه لرو.

که ولرو: سپین د... لپاره کابل ته لاړ. دا جمله یا وینا سمه ده، که هلته ۵ ورځې ، ۸ ورځې یا تل ځای په ځای شي. رښتیاوالی یې بیا د پوښتنې لاندې راځي، چې رښتیا یا نارښتیا به وي.

که یوه وینا د په خوښه x وخت لپاره کیدی شي، نو دا په دې معنا ده، چې x هر وخت- ارزښت نیوی شي، له 0 تر ناپای او که دا وخت تل هم وي. دا چې د دې وینا ارزښت رښتیا دی او که نا رښتیا د وینا خوي دی او تعریف، چې سموالی یې په ګوته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکنه د ژبپوهنې له لارې اوکه څنګه؟

ګرانو هیوادوالو!

زه په دې خبرو اترو کې د ،، ژبپوهنې،، له لارې مخته نه ځم، ځکه چې ژبپوه نه یم، خو په ژبو پوهیدنې له لارې مې دې کار ته ملا راتړلې. که رښتیا ووایم، نو ډېرو هیوادوالو په سر کې یې استاد غظنفر ( وروسته پرې خبرې کوو) هم دا زما مخ ته لرنه را ته ځواکمنه کړه، چې باید دا څه مې چې په زړه کې ګرځي، د ګران هیوادوالو سره شریک کړم.

لکه چې یاده مې کړه زه ژبپوه نه یم، خو دا ډېر کلونه په ژباړه بوخت یم، نو له دې امله مې د ژبې یا نوره هم د ژبو سره مینه پیدا شوې او د لیکلو او یو په بل اړولو ته مې ملا راتړلې، چې په ترځ کې مې یو لړ کتابونه ژباړلي او څه مې راټول کړي، چې له شلو زیات یې چاپ ته رسیدلي او له اتلسو زیات یې لا بې چاپه پاتې دي.

له ډېروخت راهیسې مې زړه وو، چې د پښتو د ځنو وییونو او کارولو په هکله خپل اند د ګرانو لوستونکو سره ګډ کړم، خو د چا توان (موخه مې ترې خپل توان دی) د سړي خپل لاس کې نه وي او څّه چې کیږي هغه کیږي، یعنې دا ټول قسمت دی.

خبرې ډېرې نه غزوم او په لاندې توګه مخ ته ځم:

زما لیکنه چا ته ګوته نیول نه دي او نه په دې ټینګار دی، چې ګوندې دا زما اند ټیک دی، خو په دې هیله دا لیکنه کوم، چې د پښتو لیکلو لپاره یوه د ټولو په خوښه لار ومومو او په هغه څه کې چې زما تشویش دی، له منځه لاړ شي.

# ژبه څه شی دی؟

یوکس یوځای کې پوښتنه کړې وه، چې ژبه څه شیدئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيژند: د ژبې لاندې ډېرې ( set ) پوهيږو، چې د ،،کمونيکيشن يا خبرو اترو کمپلکس يا ګډوله سيستم ،، ټول توکي خوندي ولري. (له الماني ويکي څخه)

بل پيژند: ژبې ،،د يوونويا يووالو او لارو ( قوانينو) سيستم دئ، کومې چې د ژبېولنو د يوبل سره د پوهيدلو الې په ښير په چوپړ کې وي،،. ( له الماني ويکي څخه)

وايو، چې د دې غوښې له ټوټې پرته، د پوهيدلو او پوهول اله ده، دا د يوه قوم په منځ کې (،، ترمنځ،، نه ليکم. دې ته بيا وروسته راځم. دا دې زما د،، پرېپوزېشتونونه او ..،، ليکنه کې وکتل شي) او د هغه قوم د کلتور په ککره کې ځای لري

د ژبو پيدا ښت، چې غبرګې پيدا شوي:

يو څه چې په يوه ژبه کې شته د هغې انډول يا برابر او که غواړې معادل په هغه بله ژبه کې هم شته، د ګرامر په پام کې لرنې سره.

دا په دې مانا، چې ژبې غبرګې پيداشوي،مخ اووروسته به سره ولري او يوله بل سره ګډون.

دا به څيړل شي، چې هرې پيدابښتي ژبې وی په بله ژبه کې هم شته او د دې پيداکول داسې ستونځمن دي، چې مسلکي پوهنو اومسلکپوهو ته اړتيا لري اونه يې توکلي پيداکونه، لکه چې ورسره بلد يو.

## پښتو ژبه

پښتو چې يوه ځوانه ژبه ده، بخښنه غواړم ډېره زړه، خو منځ ته راوتنه يې ځوانه ده، چې له دې کبله په پوهنه او پوهنيزه کيدنه کې ستونځې لري او زه يې ځوانه بولم.

په پوهنه کې پښتو له نورو ژبو څخه څه بايد رااخستي وی او را اخستي يې دي او بايد هم راوايې خلي( دلته دا ،،راوايې خلي،، ته دې هم د پام لاندې ونيول شي، چې ،، يې راواخلي،، يې به يې په ځای ښه نه وي؟)

زه غواړم د دې ليکنو سره دا ووايم، چې موږ څومره ستونځې د ژبې په معياري کولو کې لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



معیاري یعني څه؟
معیار مو څیړلی. داسې به ووایو، چې ایا پښتو پوهنیزه کیدی شي؟

دا په دې منا،چې ایا دا پوهنې په پښتو کیدی شي؟

پښتو هم د نورو ژبو په څیر یوه ډېره غني ژبه ده او هغه څه، چې په پیداېښتي توګه په نورو ژبو کې شته، په پښتو کې هم شته او له دې امله پښتو پوهنیزه کیدی شي، چې زما لیکنې او ژباړې یې یوه بیلګه ده.

ما یو مسلک شمیرپوهنه ( دا په رښتیا د ځان ستایینې له امله نه وایم) د پوهنتون په سویه ( کچه راوړل سم نه دي) په پښتو ژباړلی او لیکنه مې پرې کړې او فزیک مې هم داسې زیاته برخه په پښتو کړی. ګورو، چې هر څه په پښتو لیکل همداسې شوني دي، لکهپه نوروپزو،خوپه خپله ژبه او مسلک،چې هرومرومو له یوېبلې،پرمختللې ژبې زده کړی وي ، وپوهیږو.

## زما دا لیکنې ځنګه شونې وې؟

دا لیکنې شونې وې، ځکه چې ما ورته وخت لروده او اړتیا. اړتیا دې ګوره هرومرو مادي نه وي. دا به ناشونې وي، چې یو څوک دې یوکارد بل چا له پاره وکړي.هر څوک چې هر څه کوي، باید د ځان ګټه په کې خوندي وګوري، چې په بل چا احسان وانه چوي.

پیداېښتي داسې ده، چې د ځان په ګټه کې که د بل زیان وو، دا ناروا ده اوجرم.

ځنو ملګرو به ځما د کار سره مخامخوالی لروده اوممکن اوس یې هم ولري. دا مخامخوالی د پښتو نومونو لیکلوو. له ما څخه یوه کس لیکلې پوښتلې وو، چې زه دا د ریاضي کتابونه د علم له امله لیکم او که د پښتو له امله؟

زما ځواب ورته د پښتو له امله وو، ځکه چې پوهنه په نوروژبوکې شته، بیا دې خلک نورې ژبې زده کړي، خوزما موخه داوه، چې زموږ ژبه هم د پوهنیزې کیدو توان اوحق لري. پښتانه پرې پوهیږي اونورورته اړتیا نه لري

زه چې بیا بیا په دې هکله لیکنې کوم ورته لږ( نه ډېر) احساساتي کیږم، خو دا هم خپل ځان ته یو خوند لري. ورته وژاړم، ورته خوښ شم او بیا ورته خپه شم، چې نو دا زه ولې

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا دومره کار ته اړشم، که څه هم ما دا کار په خوښه کړي اود ځان روغ ساتلوله پاره مې کړی.

دومره وایم، چې زه دا لیکنې اوژباړې ګوم ورته هکپک کیږم، ځکه چې نه پوهیږم، دا دومره لیکنې مې څنګه سرته رسولې. د شمیرپوهنې لیکل د نورو څخه ساده دي، خو ما یې دا ټول کارپخپله کړي، یواځې دا سره راټولول یې هم پوره کاردی.

خوند یې:

زه چې خوب ته ځم، نو زما هغه لومړنی کتاب مې - چې نږدې په زرومخونو کې چاپ شوي – سرته اینبودی اوداسې لږ تر لږه خو یې پاڼې سره اړوم. زه یې روغ ساتلی یم او دا پوره کاردی.

# زموږ لیکنې:

موږچې څه لیکو، نو په هغې باید ښه وپوهیږو او د ژبې او سم اند لارې ته باید برابره وي. زموږ ملګري د ځنو نومونو سره ستونځې لري، چې هغه زما په ګومان له دې امله دي، چې د هغه وی یا نوم سره یې د پوهیدلوستونځې دي.

زه یوه بیلګه راوړم او هغه څیړم، چې څه دي.

بیلګه: انګیزه، انګازه اواوس کله کله ازانګه هم شي، چې موږورته په هسکه مینه کې انګی وایو. دا زموږځنې لیکوال په اند دي، چې ګوندې دا یوله بل بیل شیان دي، خوداسې نه ده. دا همغه یو څه دي، چې یو غږ له غره بیرته راګرځي اویاد یوه سیاسي کس خبرې له ولسه بیرته راګرځي ( دا موضوع بل ځای کې څیړل شوې).

موږ دلته همداسې څه د څیړنې لاندې نیسو.

موږ هغه څه چې ژبې ته په خپله خوښه راننباسلي، مسلکیتوب مو په پام کې نه وي نیولی او د پردیو ژبو سره هم پوره بلد نهویو، ناسمونونوسره مخامخ کیږو. بیا وایم، چې د دې لیکنې موخه هم دا ده.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما جنجال له تاسو سره

زما جنجال لږ له دې امله ستونځمن دی، چې له ټولو پښتو لیکوالانوسره دی اودا له دې امله، چې موږدا دې ژبې ته راننباسلي ناسم یونه اوناسم نومونه ټول کاروواوله دې امله به ستونځمنه وي، چې یوبل سره په دې هم اندي شو، خو هڅه اړیینه ده.

زه هڅیدلی یم، چې په دې هکله پوره ژبنیز اوسم اندیز دلیلونه راوړم او څه له ځانه در سره شریک کړم.

زه هرڅه چې هغه بنستیز نوم یا وی ته را ولم، د دې له پاره هم پوره دلیلونه راوړم، هغه څوک چې اند یې زما مخا مخ دی، له هغوهم هیله کیږي، چې په دې هکله په ژبه او ژبپوهنه ودان دلیلونه راوړي.

د بیلګې په توګه چې څه بهیږي هغه له پیداښته بهیدونګي دي اوپه نوروژبو یې اندول هم همداسې پوهیږو،ژباړه به یې همدا بهیدونکي وي.

که څوک دا ( په ناسمدول) اوبلن بولي، نو د دې له پاره هم باید یو په پوهنه او سماند ولاړدلیل راوړي.

که زما لیکنې سره هم انده نه وی، نو هیله مې ده، چې په ژبه اوسم اند ودان دلایل راته په پوره ځګه ژبه ولیکی، نه زړه بدی کیوړم،خو سمون باید وي.

## د ژبې پوهنیزه کیدنه.

ژبه په هغه وخت کې پوهنیزه ده، چې داسې لږ تر لږه دا د لومړنیو ستونځو ته اوبی (ستونځوبی ( وروسته یې څیړنه شوې)) پیداشي.

موږ په پښتوکې – دا باید په ډېره خواشینی سره ووایم- چې د هغه ساده اړتیاوله پاره هم پوره مسلکې کسان نه لرو، موږ ان له هغه پیلیزو پوهنو سره له پیله څه نه لرو، موږ ان داد ښوونځي پوهنې مو هم ناسمې لا تراوسه نه دي سمې کړي .

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د رياضي يو کتاب ليکلی، چې Ketabton.com کې خپور دئ اوله اومتر۱۲ ــم ټولګي پورې مود هر کتاب څخه يوه يوه برخه څېړلې، چې له څومره ناسمونونو ډکه ده. متآسفانه، چې ټول د شميرپوهني يا رياضي کتابونه – چې ما لوستلي - همداسې ناسم دي.

په ژبو پوهيدل اوپه مسلک واک لرلو سره پښتو هم پوهنيزه کيدی شي.

## په پښتو کې څېړنې څنګه شونې دي؟

زموږ ژبپوهانو، چې په پښتوکې يې تراوسه ماستري يا داکتري لروده يا لري او يا يې له دې وروسته لاسته راوړي، دا يې هم له نورو ژبو څخه لاس ته راوړي او او س هم په خپل هيواد کې ورته د جګو زده کړو ادبيات نه لرو، نو زما په اند که څوک غواړي، په پښتو کې – لکه څنګه په نورو ريښوکې هم- څېړنې وکړي يا لوړې زده کړې، نو اړيين دی، چې يوه پر مخ تللې دباندنی ژبه ښه زده کړي، که په دباندې کې د زده کړې شونتيا نه وي، نوداهڅې دې په کوردننه وکړي.

لکه څنګه موچې هيوادوروسته پاتې دی، همداسې مو په ورته ډول ژبه هم وروسته پاتې ده، چې له نږدې شپيته کاله د مخه داسې لږه رسمي سوې( په قانون کې پوره، خو قانون ته څوک ګوري)، نوکه هر پښتون غواړي څه وليکي ډېر ښه به وي.

نه ! ډېر اړيين به وي، چې يوه پرمختللې ژبه، چې له ټولو يې انګرېزي ښه ده ، زده وي او د خپلې ژبې لپاره ترې ګټه پورته کړي.

دا په دې مانا، چې د نصاب له پاره د ښوونځي اوپوهنتون کتابونه سيده له انګريزي راوژباړي، خوهغه ژباړی بايد په مسلک اوپه دواړوژبوښه پوه وي.

## نومونې ( نومه ونې)

نومونه او په ټوليزه توګه – زما په اند- ژبه څنګه منځ ته راغلي؟

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه:

ما نومونه لیکلي، خوموخه دې د ژبې ویونه وي، که دا نومونه، فعلونه، ضمیرونه او یا نور څه وي.

ځنې شیان د هغو د خویونوله لارې راته روښانه کیږي.

موږ ته پوهنه په پښتوکونه ډېره ستونځمنه په دې ده، چې دا پښتو نومونه او ویونه راته ورځني نه دي، لږ ترلږه په پوهنو کې. ځنو پوهنوکي خو نه دا چې دا نومونه ورځني نه دي، په هغې پوهیدل هم ستونځمن دي. زه کله کله، چې د الماني څخه کوم نوم په پښتو ژباړم یا پښتو کوم یا یې نوره هم ښه په پښتوکې یې انډول پیداکوم، چې پرې پوهیدنه راته ستونځمنه وي، بیا یې انګریزي ګورم اوبیا یې د عربې سره هم پرتله کوم، ګورم، چې دا ځنګه وبلل شي یا یې نوره هم ښه انډول یې څه دی. نه چې دا ځنکه وبلل شي، بلکې چې دا ځنکه یا کوم نوم دی، داسې نومونې(ښه به یې داسې نومه ونې ) په تخنیک کې ډېرې مخ ته راځي، ځکه چې د نوروپوهنو د ژبې په ځنګ کې په تخنیک کې هم ستونځې لرو.

لنډ: د ژبې ستونځې او مسلکي ستونځې لرو، چې د شیانو پښتو بلل راته ستونځمن کوي.

د نومونوله لارې یو شی یا د شیانوډله یا ښه یې ټولګی یواځني ټاکل کیږي اودا ټاکنه زیات وخت د شیانو د خویونوپه بنسټ سرته رسیږي.

موږدلته د بیلګې په توګه نومونه ترڅیرنې لاندې نیسو.

موږ درې ډوله نومونه لرو:

داسې سمه نه ده، دا ځانله نومونه نه دي. وبه وایو، چې موږ درې ډوله ویونه لرو

یو: هغه ویونه او نومونه چې له پیداېښت څخه راسره مل دي.

دوه : هغه نومونه اوویونه، چې د هغه څه له پاره منځ ته راغلي، چې هغو د منځ ته راوړونکو نومونوباندې یادیږي، یایې ورته دځانګړي خوي څخه منځ ته راوړل شوي.

دریم: هغه نومونه یا ویونه چې د پوهنې د ودې سره منځ ته راغلي.

## و یو ته:

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پيدابښتي نومونه اوويونه په هره بله ژبه کې خپل انډول لري او بايد موږيې ورته پيدا نه کړو. دا موږ يې په لاندې ډول لږ روښانه کوو:

الف: ټولګيزنومونه اود ټولګيز ويونو له لارې نومه ونې:

١ – ټولګيز نومونه، چې د ګډو خويونو په بنسټ وي:

لکه انسان، نبات اوداسې نور اويا همدسې تو، سوږ،برګ او نور، دا ډول نومونه او ويونه هره ژبه لري، که په کومه ژبه کې ستونځې ورسره وي، نو د نوروژبوپه مرسته يې د خوي له مخې نومونه پيداکولی شي.

٢ – ټولګيزنومونه، چې د تودوخې درجې اړوند د ګډو خويونو له مخې چې د شيانو ګډ حالت د ځنو خانګړو شرايطو سره په ګوته کوي يا لنډ: د شيانوفزيکي حالت.

دا شيان په درې ټولګيو وېشل کيږي:

يو: کلک . يعني د کلکو شيانوټولګی،چې زرې يې سره کلکې نښتې وي، لکه تيږه، يخ،واوره ، که اوبلنه هم وي

دوه – بهيدوني ( د هغوتنونوټولګی،چې بهيږي يا يې زرې کلکې سره نه وي نښتې) يا بهيدونکي ( دا نوم زموږاديبانوتخريب کړی او اوبلن يې بولې، چې دا د ټولګې د يوه شي ( اوبه) خوی دی( نورورسته))، لکه اوبه، شيدې ...

دا ولې؟

ځکه چې زموږ د دې ناسم نوم اېښوونکي او ناسم وي بللووني( که بلونکي؟؟).

لومړی ١:د دې شيانود ټولګيو په فزيکي خوي نه پوهيدل او

دويم ١:همداسې دوي نه شوکولی، چې دانومونه له نوروژبو راواخلي، هلته دا پوره روښانه دي اوهرڅوک پرې پوهيدلی شي. دا موضوع بل ځای کې هم څيړل شوې.

دريم – تښتيدوني (بخار،غاز ونه او غازډوله):

دا د هغو تنونوټولګه ده، چې زرې يې يوله بله تښتي، لکه د بويولوتنونه يا بخار، غاز او ....

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نومونه د شیانود ټولګیو د پیژند له مخې منځ ته راځي.

د دې لپاره چې خبرې اوږدې نه شي، داسې يې را لنډوو:

دا بیا تکراروم:

د ځانګړو شیانو یا د یو یو نومونه:

دانومونه چې موږورسره سر اوکار لرو، په لاندې توګه لنډ څېړو یا ښه یې: په ګوته کوو:

الف: هغه نومونه چې په پیداښتي توګه منځ ته راغلي یعنې د انسانانود اړتیاوسره انسانانوداشیان – د دې له پاره چې یو له بل توپیر شي- د ځانګړنې لپاره نومولي، چې دا په ټولو ژبوکې همغه اړوند شی په ګوته کوي، لکه اوبه، تیره، اور، کوروکوټه، ولاړ، ناست، نیز یا سین، خاوره، غونډوسکه، ونه او نور چې د نړۍ په هره ژبه کې ورته اړوند نوم شته، چې همدا څه ترې پوهیدل کیږي.

ب– هغه څه ، چې له پیداښته نه شته او د نوو زده کړو په بنسټ په بیلا بیلو پوهنو کې منځ ته راغلي، دا یې زیات د شیانود خویونوپه بنسټ غوره کړي او یا دا شیان کسانود لومړي ځل له پاره پیژندلي وي یا نړۍ تهوړاندې کړي وي،لکه الځهایمر،ځلزیوی،نیوټن اونور.

دانومونه په هره ژبه کې باید همداسې وي اودي هم.

پ: هغه نومونه چې په نوره نړۍ کې د نوښت له امله منځ ته راغلي، لکه ستاندار( معیار) اونور.

د داسې نومونوله پاره زما وړاندیز دا دی، چې دا دې هم همداسې پاتې شي، که نه ډېر ناسمونونه بیا ځان پسې لري، چې وروسته روښانه شوي.

## د نومونو یا ویونو پیداکونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نوم یا کوم وی د نه لرني یا نه پرې پوهیدني نوم یا وی له پاره وی یا نوم پیداکوني یا اېښوونې له پاره څنګه مخ ته څو؟

نوم ایښوولو لپاره یا نوره هم ښه د څه نوم یا یو وی، چې تر اوسه موږ.نه وي نومه ولی اویا موکوم وی ته اړوند په پښتو نه وي پیداکړی، په ژبه پوه مسلکي کسان مسولیت لري. دوي باید د هغه څه خویونه وپیژني او بیا ورته اړوند نوم د خوي په بنسټ وټاکي، یعنې داسې نوم، چې خوي روښانه کړي یا د خوي په بنسټ روښانه شي.

## ایا داسې یوڅه به وي؟

بخښنه دې وي داسې نه ده، چې ځنوشیانویا کوم وی ته چې پیداښتي وي نوم یا په پښتو وی نه لرو. دا لرو، خو موږ نه یو هڅیدلي هغه پیدا اووکاروو.

په خټه کې باید دا د نوم بدلولو اجازه نه وي، خوکله کله ادیبان او لیکوالان ځانونوته دا اجازه ورکوي. وبه ګورو، چې دا کار مو ناسمون ته هڅوي.

د بیلګې توګه: لکه دوي په سلو کې له دېرش څخه چې لنډ یې، لکه څنګه چې دی- دېرش سلمه - وبولي، دوی ورته په خپله خوښه اوپوره ناسم ،، دېرش سلنه،، وایي اوددې لپاره هیڅ سم اندیز دلیل هم نه لري بې له رسنیز زورڅخه، چې په دا خپل ناسمه کړنه کې بریالي دي.

یا لکه بهیدونکي تنونه چې اوبلن بولي، چې خورابیځایه بې پرې پوهیدنې اوناسم اود ژبې سره تیری دی ( په ډېر هبخښنه).

په دې هکله وروسته خبرې شوې دي.

موږ د هر اړخ پوهنه کې ستونځې لرو، چې څنګه په پښتوشي، خودا کار یواځې مسلکي کسان کولی شي، چې غیرمسلکي کسان یې تخریبوي.

د بیلګې په توګه: د عربي مایع اوبلن بلل هغه چا کړی، چې هغه د تنونو فزیکي خوي سره نابلد دي او هم ممکن اوبلن یې د لومړي ځل له پاره اورېدلی وي. که یوفزیک پوه یا

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېږداسي د فزیک سره بلد کس څخه دوي مرسته غوښتي وی، هغوی به ورسره دا مرسته کړې وی او کیدی شوی، چې دا یې همغه په خپل سم ډول بللی وی. د یو فزیکپوه له پاره به هیڅکله اوبلن بهیدونکي نه وي، اوبلن لا تر هغې کلک دی، چې اوبه کیږي) زه د ښوونځي د نصاب په دې غونډه کې ناست وم اوپوره زاري مې ورته وکړې، چې دا اوبلن نه دی، دا بهیدونکی دی او هم وهڅیدم، چې دا پنځمه ،،ئ،، په پښتوراونه تپې، خو بریالي کیده مې نه کیدل.

## ورسره بلد ناپوهوړ...

په خواشینی باید ووایم، چې موږ هغه ورسره بلد ناپوهوړ ویونه او نومونه منو - که ناسم یې هم لیکو- اوښه راته برېښي، خو نابلد پوهوړ پورې بیا خاندو، یا لږتر لږه ورته خندا راځي

بیلګه:

موږ په شمیر پوهنه کې لرو، چې موږ ورته ،، زوزاپکل،، وایو. خدای مې دې غاړه نه نیسي. سمه لیکنه یې زما په ګومان ده: ،، ذوالاضعاف الاقل،، او له ښوونځي څخه پرې پوهیږو، چې هغه شمیرپوهنیزه یې موخه څه شی دی او نه دا چې دا په پښتو څه مانا لري، خودا خپل نوم راته د خندا برېښي، چې: ،، خورا کوچنی ګډ زیاتځله،،. په ،، خورا،، پوهیږو، په ،، کوچني،، پوهیږو، په ،،زیات،، پوهیږو، په ،، ځله،، پوهیږو، خو منل یې راته په لومړي ځل د خندا برېښی. اوس هم کیدی شي تاسوورته هکپک او وخاندی، ځکه دا خندا له فکره د مخه ده. که فکرپه کې وشي، نوبیا یې من لشوني دي اوپرېپوهیدل هم.

که څوک په عربي پوه وي، وبه ګوري، چې دا پښتو د عربي سره سر خوري.

بله بیلګه:

که کرې ته غونډوسکه یا غونډاری ووایوونوخندا څه کوې، چې برګ هم درته ګوري، چې دا سې یوه شي ته لکه د ځمکې کره د خپل ټول لویوالي سره څنګه دې دا چټې غوندوسکه وبلل شي.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په پښتوکې د نه لرلونومونو او ویونو نومونه(نومه ونه)

دلته د نه لرلو خبره ناسمه، سمه یې د نه لهژبې‌رابرسیره شوو اویا له ژبې ومسلک ته د نه ننوتلو د باندنیوویونو اونومهونو ویونه اونومهونې.

دا چې ټوله پوهنه موأه نوروژبو را اخستي،نو د لیکونکید اسانتیا لهپاره یېد همې بلې‌ژبې‌نوموه م ورته رانیولي، ځکهچې دا د پښتو انډولګورو،چې‌دا اوس هممورږ ته د منلواو زغملو نه، که څه خهم سمپرېپوهیږو.

د بیلګې په توګه، که مستطیل ته ولاړګوډس یا ولاړکونجې‌ووایې، نو زمورږ پښتانه دا نه مني او ناوړه ورته بریښي ( زما اوږده تجربه). دا بایدووایم، چې دا همدا ولاړګوډې یا – کونجې‌ده،کهڅوک غواړي اوکه نه. (ګورئ مستطیل باندې پوهیږي اوکه ولاړګوډی؟ د مستطیل پښتو انډول باندې په نور ژبو کې هم نه پوهیږي اوکه پوه شې، نو بیا یې سملاسي منې).

## د دباندنۍ ژبې ویونو له پاره د ویونوپیداکول اوکه په ژبه کې یې پلټل؟

زما تجربه:

ما یومسلک - شمیرپوهنه، چې زما مسلک دئ - په پښتوکړی او فزیک مې د څنګیز مسلک په توګه هم – لږ تر لږه هغه د ښوونځي فزیک - زیاته برخه په پښتو کړی، که ویې ګورو، نو وبه پوهیږو، چې پښتو هم همداسې یوه توانمنده ژبه ده لکه دا نورې ژبې، خویواځې تراوسه لیکنې پرې نه دي شوي اوویونو له پاره مو په پښتو کې انډولنه دئ پلټلی ( شته دئ، خبره پلټلوکې ده).

زه تراوسه د داسې یوڅه سره نه یم مخامخ شوی، چې په پیداېښتې منځ ته راغلي د باندنیو ویونو ته دې مورږپه پښتو کې انډول ویونه ونه لرو، نو له دې امله یې ورته نوی نه پیدا کوو، هغه انډول یې په خپله ژبه کې لټوو او د دې کار له پاره د هغه وی مسلکي کسانو څخه ګټه پورته کوو.

دا چې دا کار مو په ژبه کې شوی یا چا کړی، ناسم شوی، چې سمون یې پوره ستونځمن دئ (د دې لیکنې موخه).

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بیلګې په توګه اوبلن، کچه او نور همدلته وګوري.

## د پښتو انډول

هغه ویونه، چې موږ تراوسه په پښتو انډول ویونه ورته نه دي لټولي، که زیات ستونځمن هم راته برېښي، په پښتو کې انډول لري، چې د دې انډول پیداکولو له پاره موږ له همغو پرې پوه دباندنیو ژبوڅخه په ګټه اخستلودا نومونه یا ویونه موخه ور پیداکولی شو، چې زه له فزیک څخه یو څوبیلګې راوړم:

یادونه: دا پښتو نومول یې اړیین دې اوکه نه؟

په دې نه غږیږم. موخه دا ده، چې په پښتوکې ورته انډول لرواوکه نه.

لومړی: (برېښنا) تړونی

په کوټوکې چې برېښنا څراغ روښانه کوو، نو انګرېزي ورته سویچ Switch په الماني ورته Schalter وایي وهو یا کیکاږو. که دا په پښتوکوو یا نوره هم ښه، په پښتوورته انډوللټوو، نو لومړی باید وپوهیږو، چې دا د فزیک له مخې څه دنده لري، د دې نوروژبو موخه به همدا وي اوکه څنګه؟

د فزیک له مخې دا هغه اله ده، چې دوه سیمونه (( برېښنا) وړوني) سره تړي او یا د مړکیدو وخت کې یې سره بیرته بیلوي. پوښتنه دا ده، چې دا که موږ د سویچ په ځای ،،تړونی،، وبولو، نو موخه ور به نه وي؟

د پورته انګرېزي او الماني ژبو ویونو له پاره انډول همدا ،،تړوني،، دئ.

دا چې داسې بلل یې ښه کار دئ او که نه یا په داسې بلنوسره هم انده یوکه نه، په دې باندې خبرې نه کړو، خو دا همداسې دئ، دا تړونی دئ اونه بل څه.

دویم: (برېښنا) ساتنتړونی

په الماني کې Sicherheitsschalter او انګرېزي کې safety switch لرو.
دا په کورکې هغه برېښنایي جوړښت دئ، چې د شارټي یا لنډپرېکیدنه کې برېښنا پرې کوي، دا په دې مانا، چې په کورکې که کوم برېښنایي جنجال منځته راشي، نو برېښنا

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېکوی، يعني دا هغه اله ده، چې کوراو هرڅه ساتي، له همدې امله يې مانا هم ،، ساتنتړونی،، کيدی شي يا ده، چې همغه خپله موخه په ګوته کوي.

دريم: راکښنه

د الماني Spannung، چې پښتوانډول يې په لاندې ډول روښانه کوو:

روښانونه: شپانونګ نوپه دا ورځني ژوند کې څه مانا لري؟

الف : که دوه مېين سره مخامخ شي، نو رپيږي اوزوړنه يې داسې لړځيږي، چې ګوندې يوبل غيږکې ونيسي. (د غيږکې نيونې ميل)

ب : که دوه سره په کړکيچ اخته يا سره وران کسان مخامخ شي، نو د کينې څخه يې زړونه رپيږي، چې ګوندې يوبل سره ووهي.(د ټيلوهنې ميل).

په برېښنا کې يې روښانه ونه: په برېښنا کې هم شپانونګ ( دې ته برېښنا سرچينه هم وايي) د دوه قطبونو سره مخامخ کيدو سره د دوي په منځ کې د راکښنې يا ټيلوهنې ميل منځ ته راځي، چې دوه سيمونه ( وړوني) يې سره لري.

همغه قطبونه سره ټيلوهي او مخامخ قطبونه سره راکاږي.

پوښتنه: ايا دا به هغه خپله موخه روښانه نه کړي، که دا راکښن- ټيلوهنه وبولو؟

يا لنډ: راکښنه وبولو؟

بلل يې د هرچا خوښه، خو همداسې ده.

## د ويونو پښتو بللوسره نو څه وکړو؟

د ويونو يا شيانو بللو له پاره، چې د نومونو اوشيانود ،،يو،، له ډلې وي، هغې ته هرومروانډول په پښتو هم لرو او بايد دا ورته له خپله ځانه پيدا نه کړو، چې دا مو هرومرو د ناسمون سره مخامخ کوې، چې بيرته سمون يې بيا پوره ستونځمن دی، ځکه چې نور ليکونکياولوستونکي ورسره بلديږي او دا بليدېدل بيرته راستنول پوره ستونځې لري.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوي ځکه دا مني، چې ګوندې دا خوژبېوهانو نومولي اوباید سم وي، چې دا ناسمه لاربښوونه ده.

د بیلګې په توګه اوبلن اوکچه وګورئ.

،، دوه ،، ،، درې،، همداسې پرېږدولکه څنګه چې دي،ځکه چې دا په ټولوژبوکې همداسې دي.

لکه دا لاندې بیلګې:

ستاندارد ( معیار) (دا ګوره ایستاندارد نه دئ)، نوځوښه مو، چې څه یې بولئ، خوبل بلل یې  پوره ناسم دي.

څلزیوس په ټولوژبوکې همداسې دئ او موږبه هم ورته همداوایو یا الڅهایمر( الزایمر) اونور.

# دویمه برخه

## د نه په پښتوبللشوو نومونو او ویونو د پښتو ناسم انډول

په دې برخه کې غواړم د ګرانولوستونکوسره هغه څه ګډ کړم، چې ژبې ته مو ناسم راننباسل شوي، دا په دې مانا چې  ناسم مو ژبې ته نه دې راننوتي، دا ناسم راننباسل شوي دي.

# اوبلن

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ هیوادوال یا نوره هم ښه، لیکونکي د مایع په اندول نه پوهیدل اودا چې مسلکي نه وو، نو پوهیدلی هم نه شو یا په دې هکله له ستونځوځانونه ژغورل، نودې ته یې یعنې مایع ته د اندول له پاره اوبلن نوم وټاکه. په وټاکه باندې څکه زوراچوم،چې اندول یې ورته ونه کاراوه اوله دې امله یې داسې‌ناسم اوبلن وباله.

اوبلن په ژبه کې یو پیداېښتي خوي یا وی دئ او په نوروژبوکې هم اندول باید ولري.دا چې اوبلن لا بهیدونکي نه دی، نو له دې امله د عربي مایع اندول هم نه شي کیدی. دا نوم ورته ټاکل شوی یا غوره شوی دی‌اونه په پیداېښتي توکه دا اندول دئ.

موږ د دباندني وی یا نوم له پاره پښتونومنه ټاکو، موږ یې اندول پیدا کوو، چې دا کار شونی دئ.

زموږ ژبپوهانو فکرکاوه، چې ګوندې موږ د مایع له پاره پښتو اندول نه لرو، نو له دې امله یې مایع ته اوبلن نوم وټاکه.، چې په همدې غږېږو.

موږ ډېرتنونه لرو، چې مایع دي، دا په دې مانا، چې دا د تنونو ګډ خوي مایع د تنونویو ټولګی جوړوي، نو له دې امله داسې مخ ته ځو او فزیک څخه ګټه پورته کوو یا اخلو:

موږ تنونه یا اجسام د خویونو له مخې یاد زرو سره ټینګ نښتوالي له امله ( چې د جوړښت له امله یې غوره کوي) په درې ټولګیو وېشو( فزیکي پیژند):

لومړی:

کلک بدنونه، د بدنونو هغه ټولګی، چې بې له باندنی اغیزي یې زرې سره کلکې نښتي وي او بې له باندني زوره ځاي په ځای وي.

لکه:تیږه، لرګی، یخ،واوره او اوبلنه واوره (دا هم لا اوبه نه دي) اونور

دویم:

ټښتیونکي – یا غاز ډوله بدنونه: د بدنونو هغه ټولګی دئ، چې زرې یې سره نه وي نښتې اوزرسره بیلیږي او یا چې بې له باندنی اغیزې ټښتي( هرې لور ته ځغلي). دا به نو د ژبې د قانون اود دې خوي سره سم ټښتیدونکي یا ټښتیدوني بلل کیږي ( نه ! ښه یې: ټښتیدونکي دي) او سم اندیز هم څکه دی، چې هرې لورې ته ټښتي لکه غازونه. د اوبوبوخار اونور

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم:

د بدنونو هغه ټولګی چې زرې یې داسې نښتې وي، چې کلکې نه وي اویوبل ټیوهې یعنې مخ ته بیایي یا چې بې له دباندني زور یا اغیز بهیږي. دا بهیدنه یې خوي دئ اوله دې امله بهیدونکي یا بهیدوني بلل کیږي یا د بدنونو بهیدونکی ټولګی بلل کیږي.

نورهمداسې مخ ته ځو: اوبه، شدې، شرومبې، تیل او ورته شیان یعنې تراوسه مایعات څه خوي لري؟

دا هر څه د همغه خوي له مخه نومول کیږي.

دا چې دې اوبلن ډېرزورولی یم، بیا یې لږ تکرار، دا لا ډېرې روښانولو له پاره.

دا څه چې اوس لیکم دا د دې شیانو لپاره په هره ژبه کې د خوي څخه رانیول شوی او د همغه له مخې سم نومول شوی، که دا په عربي کې هم وي، چې مایع ترې نومول شوی( په سم او ناسم یې نه پوهیږم، ځکه چې موږ زیات نومونه له عربي هغسې سم نه دي رانیولي او هیڅ وربانديې پوهیږو نه، چې موږ او تاسې اوس همداسې کوو. دا مې اوس ځان ته روښانه کړه، جې د مایع انډول هم په پښتو بهیدوکی دئ ).

اوس بیا دریم ته راځو، ځکه چې همدا زموږد ادیبانوڅخه ناسم نومول شوی اوژبه تخریبوي .

موږ لوستلي: هغه څه چې بهیږي ، مایع یې بولو.

راځي فکر ورته وکړو: هغه څه چې بهیږي، دا څه ډول خوي دی، یعنې دا د بهیدنې خوي لري، یعني بهیږي. یو څه چې د بهیدنې خوي ولري، نو هغه به ایا - د خوي له مخې - بهیدونکي ( لنډ:بهیدوني) بدنونه نه وي؟

د بدنونو یا ښه یې خویونو یا ویونو داسې بلل د چا د خوښې کار نه دی، یعنې یو څه ته بل بلل ټاکل، چې هغه به هرو مرو ناسم وي.

جبه اوبلنه ده، هغه څه چې اوبه یې زغملي وي، اوبلن دی، مګر یوڅه مایع اوبلن نه دی، پخپله اوبلن لا نه بهیږي. دا ګاز یا غاز، چې تاسو ورته ګوته نیولي ده او ناسم یې،، اوبلن غاز،، بولی، د اوبو سره ګډ خوي یې یواځې دا بهیدل دي، نور بل کوم خوي ورسره ګډ نه

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري او نه يي اوبه زغملي، چي اوبلن شي، دا بهيږي، چي له دې امله بهيدونکی غاز دی او نه اوبلنيږي.

يادونه: اوبلن لا تراوسه کلک يعني نرمه واوره ده، چي پسې ويلې کيږي اوله دې امله چي ټوټې يا زرې يې سره نښتي دي بيا اوبه کيږي، چي بهيږي، دا په دې مانا، چي اوبلن اوبه نه وي، نو بهيدونکي يعني مايع نه دي. اوبلن لا واوره ده خونرمه.

ګرانو هيوادولو!

دا څه چي موږ دلته لولو، دا په نورو ژبو کې هم همداسې دي، دا د زبو غبرګون يا موازيت دی. په الماني وايي: Alles was fliesst; ist flüssig (هر څه چي بهيږي، بهيدونکيدي) او دې بهيدونکو ته بيا Flüssigkeit وايی.

اوس نو سم اند په پوښتنه کې دی، چي دا اوبلن ښه دی، چي دا خوي نه ترې څرګنديږي يعني بهيدل او که دا بهيدوني يا بهيدونکی سم نوم دی، چي د خوي څخه روښانه دی او خوې ترې روښانه دی؟

دا بهيدوني د موادو د يوه ټولګي له پاره کارول کيږي، چي په هغو کې اوبه هم خوندي دي يا په همغه ټولګي کې دي.

څوک چي د تلنې توان لري، تلونکي دي. څوک چي د خوړنې خوی يا توان لري خوړونکي دي، څه چي د الوتنو خوي لري الوتوني يا الوتونکي دي او داسې نور لکه اوسيدونکی، لوستونکی او او... يعني د بهيدلو توانوالو ته بهيدوني يا بهيدونکي بايد وويل شي او دي، او نه دا ناسم اوبلن.

په پوره خواشينی بايد ووايم، موږد ا ستونځي لرو، چي موږ د شيانو، ويونو اود ټولګيو نومونو او بللو سره په پښتو بلد نه يو او پښتو نومونه اوويونه او داسې بلل راته لږ هکپک کونکي برېښي.

د څو کاله د مخه مي ،،کره،، غونډوسکه بللي وه يعني همغه انډول نوم يې، چي نه مو منله. خپله غونډوسکه موږ ته لږ بيخونده يا هسې څه برېښي، خو دې غوډوسکې ته عرب کره وايي. ،،کرته القدم ( د ناسمې ليکنې بخښنه دې وي)،،.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عربي مایع مانا Flüssigkeit دئ. دا په شمیروني کې کتلی شی.

د دې له پاره چې یو څه مو ژبې ته د پردئ ژبې څخه راننوتې وي او اوس هغې ته پښتو انډول غواړو پیدا کړو، نو دا د همدې ژبې پوه څخه وپوښتئ اویا یې بلې ژبې کې وګورئ.
که تاسوپه عربي پوه څخه وپوښتئ نو هغه به یې درته هرومرو ،، بهیدونکي،، مانا کړي.زه په عربي نه پوهیږم، خو انډول مې یې الماني ژبه کې وکوت او د هغه انډول په پښتو هم ،، بهیدونکی،، دئ او نه اوبلن.

پای یادون:
هغه څوک چې په عربي پوهیږي، هغوي به هم پوه وي، چې د مایع د پښتو انډول بهیدونکي دي.

لږ ورزیاتونه:

په ډېره بخښنه بیا ستاسود رد (ګرم)ئ له پاره.

د اوبلن ناسم کارول:

یخ د تودوخی د جګوالي سره اوبه کیږي او بیا د تودوخی د نور جکوالي سره بخار کیږي.

واوره د تودوخی د جکیدوسره اوبلنه کیږي، بیا د توخی دنورې جګیدوسره اوبه کیږي، چې بهیږي، یعنې د همدې تودوخی سره بیرته نه اوبلنه کیږي اوبیا د تودوخی د نورې جګیدوسره بخار کیږي.

بیا: واوره اوبلنه شي، خوواوره ده اونه بهیږي، ځکه لا تراوسه اوبه نه ده. بیا د تودوخی د جګیدوسره دا واوره، چې اوبلنه شوې ده، اوبه کیږي، چې بهیږي او - بیرته د همدې تودوخی درجې سره - نه اوبلنه کیږي. د تودوخۍد نورې جګیدوسره دا اوبه بیا بخارکیږي.

## اورغورځونه اواوربهیدنه :

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ـ ماته د ډېر ګران څېرونکي، اديب، ليکوال،شاعر  درانه ليوال صيب ـ يوه ليکنه ولوستله، چې لاوا يې ،،اوروبې،، بللی وو، چې زما اند يې زما د مخه ليکنې په بنسټ په دې هکله څه ليکلو ته راوهڅاوه، چې له تاسوسره يې شريکوم.

موږ اورغورځوني لرو، چې هغه اورراغورځونه يې بيا داسې حالت ته ورسيږي، چې بهيږي.  د پورته روښانونې سره سم، دا هم دا د اورغورځونې لاوا، چې بهيږي، نودا اوربهيدنه يا ،،بهيدونکی اور،، دی.

دلته ګورو، چې دا لاوا يا اور نه اوبلن کيږي، دا اور بهيږي، نو له دې امله بيا هم په دې ټينګار کوم، چې د عربي مايع له پاره اوبلن کارول پوره ناسم دی.

## کچه

دا کچه زموږ په ژبه کې د داسې څه له پاره زموږ د ليکلوست خاوندانو له خوا کارولکيږي، چې هغه يې ترېپوهيدنې اوبنسټيزې مانا سره  هيڅ اړوندوالی نه لري

کچه څه ته وايې اوموږ دا څنګه، ولې او څه ته څنګه ناسمه کاروو؟

زموږ په ادبياتوکې ،، کچه،، د ستاندرد( معيار)، سطحې(هوارې)، سويې، ليول له پاره کارول کيږي.

دا هر څه به روښانوو اوبيا به دې ناسمون ته ګوته نيسو:

لومړی دا څه څيرو، د څه له پاره چې ،، کچه،، کارول کيږي.

## لومړی:  ستاندارد يا معيار:

يو ستاندارد **Standard** يو پرتلييز ډوله يوونيز يا يوونيز شوی ، لا نور هم پيژندل شوی او زيات کارول شوی( يا لږ تر لږه هڅيدنی وړ) رقم او ډول دی، چې يو څه جوړ کړي يا يو څه منځ ته راوړي، کوم چې د نورو رقمونو او ډولونو په مخامخ برياليی شوی وي.
لنډ: دجوړښتونو  په پرتله کې دجوړښت برياليی ډول جوړښت ،،ستاندارد يا معيار،،  دی

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا: دا که کورونه وي یا ماشین الات، د جوړونې له پاره یې ډېر مسلکي کسان وړاندیزونه کوي اودا وړاندیزونه بیا سره پرتله کیږي، هریو ډول چې د غوښتونکو کسانو خوښ شو،هغه بیا ستاندارد دي

## دویم: نیوو Niveau :

۱ – ټاکلې هواره یا کرښه ده، چې د ځمکې د سرهوارې سره غبرګه ځغلي.
پوهیږو، چې دلته سرې سمسمکیوالی سره پرتله کوي او دا هر اړخیز. دلته د نیوو په ځای هواره یا سطحه یا level راوړل شوې.
۲ - Niveau : یوه ټاکلې پوړۍ ده، کومه چې له مخه ورکړشوې سکالا باندې شتون لري او له هغې سره سړی یو څوک یا شي ارزوي. که څوک د زده کړې یا پوهې له مخې یوبل سره پرتله کوي، نو دلته سړی وایي، چې دا په یوه یا برابره سویه دي. روغتون یا بل څه چې سره پرتله کیږي هم سویه ویلی شو یا وایو.
،، هغه ربښتیا سویه لري،، د روزنې درجه
۱ – ته د ځان له پاره جګ ستاندارد یا معیار ټاکې، چې ته اوس سملاسي درس ویلو ته د تلو هیله لرې.

# دریم: نورم Norm :

نورم: ټولیز منل شوې نه لیکلې لار یا قانون دی، چې باید د هغې پسې سمه تلنه وشي یا سړی ځان د هغې پسې چمتو کړي.

،، نورمونه کره کړی یا نورمونه کیږدی،،.

دا یا هغه چې ټولیز مروج یا پیژندل شوی وي.

،، د هغې لویه د نورم څخه قوي تغیر ده.،،

زیات وخت چې ډېر مخ ته لرو.
د انسانانو د ګډ ژوند له پاره ټولیز پیژندل شوې، منلې باوري لار"ethische Normen"
یا اخلاقي نورمونه.
دا په تخنیک کې تخنیکي نورمونه شته اوداسې نور.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځلورم: سطحه ( هواره) Ebene:

یو څه د یو بل څه سره په برابر جګوالي. دا دارزښت له پاره کارول کیږي. دا هم لیول کارول کیږي.

اوس راځو کچوني یا کچې یا کچولو ته:

## کچول نو څه ته وایي؟

پیژند: کچول دې ته وایي، چې د کچوني لویه د یوه کره ټاکلي کچیوون یا کچیووالي سره پرتله شي.

د یوې لویې د پیدا کولوله پاره دالویه باید په اړونده کچوني په کچه شي.د بیلګي په توګه د یوه واټن معلومول په متر یا ... کچولو سره روښانه کیږي. که دوه اوږدوالي سره پرتله کوو، نو وایو، دا یو د دې بل څخه په کچه ستردی. دلته نو په کچه ستردی.

یعني کچه، کچونه اویا...د یوې لویې د څومره ولي د روښاولو له پاره اویا د دوه همغو لو یو له بل سره پرتله کونه هم باید دا لویې په کچه شي.

د هغو څه له پاره، چې څومره والی یې نه څرګندوي اود یوبل څه د نورو کارولوله پاره د کچې کارونه ناسمه ده.

نوڅه په کچه کوو. د دې له پاره فزیکي لویې راوړو، چې کچیږي.

## ( فزیکي) لویې څه شی دی؟

موږ په ورځني ژوند کې زیات د دروندوالي، اوږدوالي اومهال سره سر اوکارلرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لویې دي.

دا چې دا لويې څومره لويې دي، د کچيونونو سره يې کچوو.

کړنه: د یوې لویې کچه ونه، چې له دې لارې يې څومره والی ځان ته روښانه کوو.

دا باید د یوه څه سره پرتله شي، چې دې پرتله ونو څه ته یونونه ( یووالي) وايو. ناسم عربي يې واحدونه، چې واحد یوه ته وايي( عربي کې ورته وحدة ( ه چې په سر يې ټکي وي،نه شم ليکلی) وايي ، چې انګرېزي او الماني يې Einheit, unit دي، چې د یوې الې له لارې کیدی شي اودا الې کچوون الې یا د کچونې الې بولو یعنې هغه الې چې کچول پرې کيږي اودا یوونونو ته، چې د کچولو له پاره يې کاروو. کچيون یوونونه يا کچون يوالي ( کچه -وون-یووالي ) وايو.

يادونه: دې ته فکر وشي، چې دا څنګه وليکو!

د دې سره ډېر نابلد یو، خود څو واره تکرار وروسته ورسره بلدېږو.

یوه بيلګه:

یوونګردی يا یووالي ګردئ ( Einheitskreis) هغه ګردئ چې وړانګه يې يويوون (واحد ( هغه ټيک يې : وحده یا یووالی)) وي.

موږ اوس غواړودا ،، کچه،، ، چې ناسم کارول شوی، په جملو کې روښانه کړو.

،، سږ کال د ټول هواد په کچه د مالي ستونزو له امله ۲۲۰ کارخونې تړل شوې دي،،.

د پورته سرليک لاندې مې یوه ليکنه په 19.2.2017

د روهي پاڼه کې ولوستله، زه خو پوه نه شوم- که ورته ځير شو- چې موخه به ترې څه وي؟

،، د ټول هيواد په کچه ...،، څخه ترې څه پوهيدنه نه لرو.

د ټول هيواد په کچه، يعنې څه؟

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کچولو سره خو د شیانو ځومره – یا ځو والی او ځوموالی څرګندیږي د ګټلو( شمیرلو) له لارې. ستاندارد یا معیار، سطحه یا لیول هم دا نه دي، ځکه چې هغه د پرتلونې وروسته خبره ده.

دا څه چې موږ لولو، نوبې له دې، چې د جملې په سمون یا ناسمون کې فکر وکړو، ترې رانیسو.

څه چې نوي وي، –پرته له مرګه – هغه ښه بریښي. لیکنو -، پرې لیکنو- او ترې پوهیدلو کې یې هم باید سوچ وشي.

د پورته غونډلې سم نوڅه دی؟

سږ کال په ټول هواد کې د مالي ستونزو له امله ۲۲۰ کارخونې تړل شوې دي.

که چیرې یولوستونکی یو نوی وی، یا نوم واوري، زیات وخت داسې کیږي، چې بې له دې چې د هغه وی په مانا وپوهیږي، هغه په خپله لیکنه کې د لوستونکوسره بیرته ګډه وي.

بله بیلګه:
،، ولسمشر غني د سیمې په کچه د ترکمنستان...،،

په پورته کې هم،،کچه،، بې ځایه کارول شوې. ،، د سیمې په کچه،، څه نه شته اونه څه ترې د پوهیدلوشته.

دلته ،، دسیمې په کچه،، لیکلو ته اړتیا نه شته او ناسم دی،

---- کله کله لولو، چې: ،،...په ډېره کچه...،،...
په ډېره کچه نه شته. کچه یوګون دی اوډېر د څوګون یا ډېرګون له پاره دی. پرته له دې د کچې داسې کارونه ناسمه ده، څه ترې پوهیدنه نه لري.
په پورته کې یوګون....دوه ګون اوڅوګون څه دي؟
موږلوټونه لروپنځه ګون، لسګون،زرګون. په همدې توکه یا په همدې لارموږدا ... ګون لرو.
یادونه: موږ که یوهلویه په کچه کوو،نودا هم ځل په کچه کوو. که موږ غنم تلو، نو یووار یې کچه ځان ته روښانه کوو، چې څو مننه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله بيلګه: ،، په ننګرهار کې د کابل په کچه يوروغتون جوړ شو،،.
داسي څه ناسم دي.دلته ليکونکی د معيار يا ستاندارد له پاره کچه ليکي، چې خورا ناسم دی.
**---- افغان نوولس کلنو د اسيا په کچه د کرکټ تاريخي اتلولي وګټله،،**

**دلته موخه د اسيا په سويه ده. دلته نه څوک يا څه شی په متر کيږي، نه په کيلوګرام سره په تول کيږي او نه په ساعت سره په کچه کيږي.**

تر يوې اندازې اوکه تريوې کچې پورې. که ووايو چې تر يوې کچې پورې، نودا کيدی شي تر ۱۰۰ متره پورې وي. دا سل متره يوه کچه ده. دا په دې مانا چې څه په کچه شوي، چې اوږدوالی يې ۱۰۰ متره دی.

له کچې ډېر: يوڅه چې دومره ډېر وي، چې کچول يې زيات وخت نيسي، نوکيدی شي ووايو، چې له کچې ډېردي.

داسي څه نه شته، چې نه شي په کچه کيدی،خو که دا ډېر وي،نو داسې وايو.

په لوی کچه وونې (کچونې)

په لويه کچه:

يود کچونې څه چې په کچه کيږي، نوکيدی شي چې دا کچونه يې لويه وي، لکه څوخرواره غنم، يا زرو مترونو رخت اونور.

په کچه ډېر:

يوڅه چې په کچه شي اودا ډېر وي، نووايو چې،، په کچه ډېر دی،،. څوزره يا ... متره يا کيلوګرامه او ...

يوڅه چې دومره زيات وي، چې په کچه کونه يې نه کيږي(؟) يا يې کچونه ډېروخت نيسي، نووايو چې ،،له کچې ډېر،، دی.

تر ډېرې کچې: يعنې تر ډېرې کچې پورې. دلته به نوډېره کچه څه شی وي؟

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کومه ترې پوهیدنه نه لري، نوله دې امله يې کارونه ناسمه، که څه هم موږ د لیک کسان ورسره ډېر بلد یو، بې له دې چې پرې وپوهیږو.

لولو:
،، په ننګرهار کې د کابل په کچه یوروغتون جوړ شو،،
د ننګرهار په کچه یعنې څه؟ دلته کچه ډېره ناسمه ده.
که د ستاندارد، معیار، سویه یا سطحې په ځای کچه لیکو د ژبې تخریب دئ.
زه د دې ډېر پلوی یم، چې څه ویونه په پښتو کولی شو، باید په پښتو يې کړو، که نه بیا د ناسم اېډول وی یا نوم څخه هغه د بلې ژبې وی یا نوم ښه دئ. ژبه نه سوچه کوو.
کچه دې همغه په خپله موخه وکارول شي.

# څه تکرار:

له ژبپوهانو څخه مرسته ( تکرار راځي، خودومره ډېر نه، لکه دا کچه چې ډېره او ناسمه کارول کيږي.).

په اشنا ن ج کې لولم:

،،افغان نوولس کلنو د اسیا په کچه د کرکټ تاریخي اتلولي وګټله،،

زه به هیڅ وخت مبالغه نه کوم. زه - باور وکړئ - په دې سرلیک نه پوهیږم چې دا سرلیک څه وايي. مګر سره له دې هم په دې چې موږ.او تاسو ټول پوهیږو، چې موخه يې څه ویل دي. که دی هر څه ولیکي دا موخه به ترې واخلو.

که دي ولیکي، چې ،، **افغان نوولس کلنو د اسیا په ګړبګروب تاریخي اتلولي و ګټله،، نو زه به ترې همغه یا همدغه موخه واخلم.**

**او که ولیکي، چې:،،افغان نوولس کلنو د اسیا د کرکټ تاریخي اتلولي وګټله،،، نو دا به څومره موخه وره اوسمه وي، بې له کچې.**

د اسیا په کچه یعنې څه؟ ایا دوه یا ډېرې همغه کومې لویې سره پرتله شوي، چې په کچونې يې روښانه کړي وي اوکه څنګه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ټیم د اسیا یا د اسیا په سویه ، هواره، سطحه آو...اتل شوی او نه د اسیا په کچه.

،،افغانستان کې د ناټو ځواکونو عمومي قومندان جنرال جان کېمبل ویاندې ویلي و، د اسلامي دلې (داعش) ملاتړي هڅه کوي ننګرهار کې ځانته **<u>د سیمې په کچه مرکز جوړ کړي</u>**،،

پوښتنه :

د سیمې په کچه مرکز یعنې څه؟

مرکز چې د سیمې په کچه وي، دا به څه شی وي؟ د سیمې کچه څه شي دی؟

د سیمې په کچه به د سیمې اوږدوالی، یا سور یا د اوسیدونکو شووالی او که.....

دلته موخه د سیمې سویه یا سطحه، ... ده، یعنې یو څه چې نورو همغه ډول شیانو سره سیالي کولی شي.
د دې له پاره ، و پوهیږو، نو د پورته ویناو له پاره باید هغه موخه ور څه ته پام وکړو.
راځئ چې څه لیکو، په هغې خانونه هم وپوهوو.

پېژند: کچول دې ته وايي، چې د کچونې لویه (اوږدوالی، درونددوالی،مهال) د یوه کره تاکلي کچیوون یا کچ یووالي ( متر، کیلوګران، ساعت) سره پرتله شي.

لرو:
الف: په ډېره کچه، د کابل په کچه،د اسیا په کچه،د هیوادپه کچه او د .... په کچه.
ب – له کچې ډېر، په لویه -، کوچنۍ کچه.
په پورته کې یا الف سم دی اویا ب.
لولو:

،،افغان حکومت په ځایي کچه سولې ته د طالبانو هڅول غواړي،،

زموږګران لیکونکي پوهیږي، چې ،، کچه،، یعنې څه؟

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځايي کچه يعني څه؟ دا کومه لويه ده، چي کچ شوي يا کچيږي، او همداسي د ،،په ځايي کچه سولې،، به نو څه وي؟

## پوله (برید):

لولو:

،، ...سيمه کي بدلونونه **تر ډېره بریده** د امريکا او غير اسلامي متحدينو د ...،،.

او همداسي: ،، تر ډېره بريده داسې ډنډوره شوې...،،.

له دې د مخه چي په ،، تر ډېره بريده غږیږم، نو برید باید و پیژنو.

برید موږ،په دا بلده پښتو پوله بولو، نو زه به هم وړانديز وکړم، چي د برید په ځای پوله و کاروو، خو وروسته له دې.

پیژند: پوله د خلکو پټي، هیوادونه او که بل څه وي، داسي سره بيلوي، چي د پولې په هرځای کې یوه برید تیګه یا بل څه کیښول شي.

څومره بريدونه شته؟

لنډ:

لويه پوله، ډېرې پولې، کوچنی پوله، لرې پوله، تر پولې پورې، له پولي اخوا، له پولې دې خوا، أهپولې ښي -،کيڼ -.... لور.

،، تر ډېره بريده يا ترډېرې پولې،، څه نه شته که ترډېروپولويا تر ډېرو بريدونو ولیکو،خوموخه ور دی، ځکه ډېر بريدونه کیدی شي، خو ،، ډېربرید،، نه شته. برید یودئ او ډېرېدی یانې ،،بريدونه،، کیدی نه شي.

## ترډېره برېده ( پولې )

ليکنې په ن ج ونو کې خوره شوې دويمه برخه

ليکونکی: ډاکتر ماخان شينواری

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ډېره بریده ،، ؟ ،،

د ټول افغان او روهي ن جالونو څخه په ډېره مننه، چې د ،،اوبلن، یعني څه؟،، په هکله یې زما لیکنه خوره کړې وه. هلته مو دې ته ګوته ونیوه، چې شدې، تیل او... اوبلن نه دي، دا چې دا بهیږي، نوبهیدونکي دي.

ګرانو لوستونکو:

ما لیکلي چې: ،، بدنونه د همغه ګډ خوي له مخې نومول کیږي،، ټیک نه دی.

ټیک یې: اجسام یا بد نونه یا تنونه د ګډ خوي له مخې ټولګیز کیږي، لکه شیدې، تیل، شړومبې ... او داسې نور، چې د بهیدونکو ټولګي پورې اړه لري یعنې بهیدونکي دي.

د دې بخښنه دې وي، چې د یو بل څه په پیل کې مو موضوع بدلیږي، خو دا ټول هغه څه دي چې تراوسه نیمګړي پاتې دي او په داسې څه کې بیا هرډول ستونځې رامنځ ته کیږي.

اوس خپلې اصلي موضوع ته راځم.

ما د یوه ن ج په مضامینوکې دا لاندې ولوستل:

،، ...سیمه کې بدلونونه تر ډېره بریده د امریکا او غیر اسلامي متحدینو د ...،،.

او همداسې: ،، تر ډېره بریده داسې ډنډوره شوې...،،.

دلته خو ،، تر ډېره بریده،، ته اړتیا هم نه شته، خو که لیکونکی غواړي دا د ټینګار په توګه ولیکي، نو بې له تر،،او ،، بریده،، یواځې ډېر لکلی شي یا ډېر وخت یا ډېر ځله، ډېر واره، چې یو څه ترې پوهیدل کیږي او که بیا هم غواړي برید په کې ریشي،نو ،، له بریده ډېر،، یې بیا موخه ور دی.

او یا ،، اویاهم تر ډیره بریده سیاسي اواقتصادی ... ،،

ګرانو لوستونکو! موږ تل په ،،برید،، د ،،برید،، له امله په پوله برید کوو، پوله د برید برید ګرځوو اوبرید یې پرېږدو. خو دا مو د خبرو موضوع نه ده، که پوله وي یا برید.

موږ دې ،، تر ډېره بریده،، د ویونو یو په بل پسې لیکلو ته خپل پام را ګرځوو، چې ایا داسې یعنې ،، تر ډېره برید ه،، موخه په ګوته کوې او که نه؟ یا شته ا وکه نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ځوک چې د یو څه سرته رسولو لپاره هلې ځلې کوي، نو تر ممکنه یا شونې بریده یا تر پولې هڅیږي او نه تر ډېره بریده یا تر ډېرې پولې. که یو ځوک د یو څه سرته رسولو لپاره ډېر زیار باسي او ربړې وګالي، نو وایي، چې له بریده یا له پولې ډېر یا اخوا او نه تر ډېره بریده. دا په ختَه کې دده د توان پوله ده یا پوله باید وي.

لنډ: ،،ترپولې پورې،، یا هم ،،له پولې ډېر،، یا ،،له ( تر؟ دا د تر وییکي (زما د ،،پرېپوزېشنونه....،، نامه کتاب کې وګورئ) پولې لر،، لرو.

لاس ته راوړنه: ،،تر ډېره بریده یا تر ډېرې پولې،، د تورو موخه ور سره ایښونه نه ده یا دا نه شته. دلته به د لیکونکي موخه ،،له بریده ډېر،، وي. زه پوهیږم، چې دا زموږ په ژبه کې ورځنی شوی مګر دا باید سم شي.

بیا: تر ډېره بریده یا تر ډېرې پولې: نه شته ځکه، چې پوله یوه ده،نو څنګه ډېرشي.

تر پولې پورې یا د پټید پولې پورېاو...: دا شته

سم یې لرو:

له بریده یا پولې ډېر.

تر لرې پولې.

له پولې اخوا

تردې نږدې پولې

تر هغې لرې پولې

او داسې نور.

## برید که پوله؟

موږ خو په ولس کې پوله لرو، پټې مو پولو رابیل کړې. په زیاتو پوهنو کې یو نوم یو ځل او د یوه څه لپاره کارول کیږي، نو که شمیر پوهنه کې پوله د یو څه لپاره وکارول شي، هغه بیا د بل څه لپاره نه کارول کیږي. په همدې توګه برید. په شمیرپوهنه کې ما لیکلي: د یو وکتور بریدټکی. که زه د لیمیټ لپاره ، چې پوله ده او ما هم همداسې بللې، برید ولیکم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دلته مي ځان ته هم جنجال پيښ کړ. په همداسي نورو ليکنو کې وايو، چې : .. کې په .. بريد وکړ، چې موخه ترې حمله ده. دابه اديبانو ته ښه برېښي، خو دا پوله يې هغه له پخوا راپاتې ده. زموږ ځنې هيوادوال که هغه نومونه، چې له فارسي ژبې سره ګډ ، په پښتو کوي، دا سمه نه ده، ځکه،چې دا دواړه ژبې يوه ريښه لري اوله دې امله، نو موږ دا ګډ څه فارسي ته نه شو پرېښولی.

له پخوانيو کتابونو څخه ګټه اخستنه اړينه ده، خو دې ته بايد ګوته ونيسو، چې موږ له پخوا څخه په پښتو کې ډېر څه نه لرو، موږ همدا اوس خپلې ژبې ته وده ورکوو او دا په وده کې پوره چټکه ده. زموږ هر شاعر او هر اديب د هغه وخت له اد يبه او شاعره ښه پوهيږي، چې دا يوه طبيعي پروسه ده او بايد همداسې وي هم. که په يوه ټولنه کې راتلونکې له پخواني د مخه نه وي، نو هغه ټولنه بې ودې وي، دا په دې معنا چې راتلونکي بايد له پخوانيو په هر څه کې د مخه وي، خو دې ته هم ګوته نيسو، چېئ دا اوسنی وده په پخواني پرمختګ ولاړه ده.

# غبرګون:

غبرګ

غواړم، چې د دې ليکنې په دې برخه کې يو وی(لغات ) وڅيړم، چې د پښتو خپرونو کې د نورو ويونوپه ځای ناسم او زيات کارول کيږي٠ زه په پښتو کې نوښت ښه بولم، خو دا نوم په دې حالت کې بايد هغه ترې جوته کيدونې يا ترې د جوته کيدو موخه جوته کړي٠

غبرګ په هندسه کې :

په هندسه کې دوه کرښې، چې څنګ په څنګ داسې وځغلي، چې سره غوڅې نه کړي او که غواړی، چې ناپای کې سره غوڅوي دا کرښې ( خطونه) غبرګې بلل کيږي٠ موږ دا په نورو ژبو پارالل، يا موازي بللي٠

غبرګوني:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دوه کوچنیان د یوه موره په همغه وخت کی پیدا شي غبرگونی وي، چې په پاړسي کی ورته دوگانه وایي ۰ دا کیدی شي په پښتو کې دوه گوني ، درې گوني او داسی نور وبولو ۰

که چیرې څوک یو بل چا ته څه ووایي، نو دا وینا لوریزه وي( طرف لري) یو څه یا یو چا ته مخامخ وي، که بل څوک وغواړي، چی د دې خبرې په هکله څه وایې دا خبره به یا همغه لوریزه وي، چی وایو سپین د زیر د خبرې په غبرگون کی وویل:

زیړ به یا د سپین خبرې سره غبرگ څه ویلي وي یانی همغه لوریزه به وي او یا به یی د دۀ خبره ورغبرگه کړي وي، چې غبرگه به وي، خو مخامخ لوریزه( په ضد یا که غواړئ برعکس)۰

که چیری په کوم کور کی پلار څه ووایې او د دۀ ځوي په دی اند نه وي او په مخامخ ( ضد) یی څه ووایی نو دا مشر بیا دی کشر ته وایی، چی خبره مه راغبرگه وه۰

که ووایو، چی د سپین د خبرې سره زیړ خبره غبره کړه، یانی دا غبرگه همغه لوریزه ده۰

زه تراوسه په دې نه پوهیږم، غبرگون به هندارونه یا انعکاس وي او که د چا ،څه یا د چا د خبرې په هکله به وي او که څنگه؟

که موخه ترې انعکاس وي، نو انعکاس اړیین نه دی، چی غبرگ دې وي.

کا د ،،غبرگون،، په ځای په ډېره بخښنه ،،گرنگون،، هم ووایو همدا به ترې و پوهیږو، چ څه له غبرگون پوهیږو.

موږ لرو چې سپین د برگ د خبرو په هکله وویل:....،نوبیا غبرگون ته څه اړتیا ده.

موږوایوچې ژبې سره غبرگې پیدا دي او هغه څه چې په نورو ژبو کې څنگه کارولکیږي، په پښتوکې هم همداسې ده، نوراځئ،چې د ،،غبرگون،، په ځای په ،، هکله،،بسیا وکړو.

## د لا نورې روښانه ونې له پاره لاندې پوښتنه ځوابوو:

ایا د غبرگون داسې کارونه، چې زموږ ژورنالستان یې کاروي اړینه ده او که نه؟

د بنه لاس ته راوړنې له پاره موږدا د غبرگون کارونه په څو غونډالوکې روښانه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکرار به ولري، خو د ښه پوهیدلوله پاره ښه دئ، چې وښایودا د لیکوالان یو ذوق او د ژبې ناسمون دئ او که د ژبې اړتیا.

لومړئ بیلګه:

ترمپ وویل، چې افغانستان کې د سولې له پاره باید لارې چارې وکتل شي.

د ژورنالستان لیکنه به وي:

غني د ترمپ د خبرو په غرګونکې وویل، چې په افغانستان کې سوله اړینه ده.

یا

غني د ترمپ د خبرو په غرګونکې وویل، چې په افغانستان کې د سولې کیلي د پاکستان سره ده.

سم یې:

غني د ترمپ د خبروپه هکله وویل،چې .........................

دویمه بیلګه:

ترمپ وویل، چې د افغانستان جګره کې د پاکستان ښکیلتیا باید له پامه ونه غورزولشي.

غني د ترمپ د خبرو په غبرګونکې وویل، چې د جګړې بنسټیز مسؤلیت د پاکستان په غاړه دئ.

سم یې:

یو: غني د ترمپ د خبروپه هکله وویل، چې ...............................

دوه: غني د ترمپ د خبروپه په ملاتړ وویل، چې ..............................

درې: غني د ترمپ د خبروپه مخامخ  وویل، چې ..............................

بیلګه: ،،وسلوالو طالبانو په دې اړه تر اوسه غبرګون نه دی ښوولی.،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غبرګون په ځای که داسې ولیکو: ،، دا چې په دې برید کې ولسي وګړو ته زیان رسیدلی او که نه چارواکو په دې اړه ( په دې هکله، په دې باره (درې ده؟) لا تر اوسه څه نه دي ویلي.،،

دا پورته ویونه لرو، چې هغه بنسټیزه موخه روښانه کوي، نو دې غبرګون یا ګړنګون اویا بل څه باندې ولي خپله ژبه تخریب کړو.

بیا: په هرصورت دا د غبرګون وي کارونه په داسې غونډالو کې ناسم او سم ناسم دی.

## سلمه اونه سلنه:

ډېر درانه اسوشیتد پروفیسور لیوال صاحب!

هیله ده، چې زما سلا مونه او نیکي هیلي به ومنې. باور وکړه، چې هیڅ مې زړه نه غواړې ستا له ارزښته ډک وخت ونیسم، خو زما زړه غواړي دا زما لیکني – که څه هم په ن ج ونو کې خواره شوي – تاسو ته هم وښایم، په دې هیله ، چې د وخت د پیداکیدو سره لږ پام ورته راواړوې، خو دومره بیړه مې هم نه ده.

ما د اوبلن په هکله هغه وخت د پښتو نصاب لیکونکو سره هم خبرې وکړې، خو هغوې ته دا اوبلن - بې له کومڅبنیزیا سم اندیزدلیله - ښه برېښیده.

د سلنې په هکله هم داسې لږ څه.

یو څه چې یو ځل ناسم ورځني شي، بیایې سمول هم ډېر ستونځمن وي.

دا له لارې وتل زما د پاره زورونه ده. داسې لوستنه چې منځ ته راغلې له اته کاله زیات نه کیږي او کوم یو لیکونکي رامنځ ته کړې، بې له دې چې په کوم دلیل یې ودانه کړې وي. تر اوسه موږ د داسې سلنې سره مخامخ نه وو.

ګرانو لیکوالانو!

دا ۱۰۰ همداسې یو ګڼ یا عدد دی لکه ۱۰۰۰، ۱۲۱، ۲۰۳ یا ۶۸او نه کوم ګڼ د ځانګړو بیلو خویونو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په سلو کې شمیرنه د ۶۸ یا د ۱۲۵گنونو سره هم کیږي، چې بیا یې په اته شپیتم او یا په یوسلو پینځه ویشتم کې شمیرنه بولو. نوله دوي څخه دېرش به بیا هم باید دېرس اته شپیتنه او همداسي دېرش یوسل اوپنځه وېشتنه بولوکه څنګه؟

که دا لاندې

$$\frac{30}{100} = \frac{3}{10} \cong \frac{1}{3}$$

له کیڼ و ښی لور ته: ۳۰ سلنه لولو، نو دا منځ کې هم باید درې لسنه ولولو او همداسي یو درینه.

همداسي

$$\frac{230}{1000} = \frac{23}{100} \cong \frac{2}{10}$$

دلته هم باید دوه سوه دېرش زرنه ،درویشت سلنه اودوه لسنه ولولو او

$$\frac{3}{8} \quad , \quad \frac{5}{21} \quad , \quad \frac{37}{121}$$

په پورته کې هم باید درې اتنه، پنځه یوویشتنه او اوه دېرش یو سل یووېشتنه وویل شي.

که داسې نه وي، نو ګرانو هیوادوالو باور وکړی، چې دا دېرش سلنه نه ده، دا دېرش سلمه ده، لکه دا نور هم - نه نه ده او -مه ده.

ګورو، چې یو ناسم څه ژبې ته ساده ننوځي او ترې را وتل یې بیا پوره ستونځمن کار دی.

که موږ هرڅه لیکو، باید په دلایلو او سم اند ودان وي، یعنې نوي څه. یو څه که زموږ لپاره نابلد وي او پرې پوهیدنه باندې یې شک ولرو، هغه دې بیا نه کاروو. داسې ویل کیږي، چې داسې کارونه باید دولتي څلوردیوالی کې وشي، خو ...

**<u>پایونه: یا به تول - مه په -نه اړوو او یا به د سلمې له پاره له سلنې څخه - چې دېره ناسمه، د پیداښت سره تیري، توکلی، بی سم انده اوله لارې وتلی ده او په شنه زور مو منځ ته روړی - تیریږو.</u>**

**<u>دېرش سلمه او نه دېرشسلنه!</u>**

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ،، ئ ،، ته اړتیا شته او که په پښتو تپل شوې.

په خواشینۍ باید ووایم، چې زه په ګرامر، چې اسم، فعل،صفت یا ستاین نوم اوکه نور څه شیان دي نه پوهیږم. خو بیا هم ګومانمې دی،چې پهژبهپوهیږم او د ژبلاربسره سمیې کوم.

راځم خپلې موخې ته او هغه دا ،،ئ ،، ده

دا (ئ) په پښتو تپل شوې اوهیله ده، چې ددې د کاروني څخ ځانونه وژغورو.

ولې؟

دا ،، ئ ،، همداسې ویلکیږي، لکه ،، ی ،، نوبیا ولې دا ،، ئ ،،.

ځنې وایي، چې دا یوه د فعل اودا بل د نوم له پاره ده، خود صفت له پاره هم بله په کې نه شته.

دا به منو، چې داسې. پوښتنه موداده، چې ایا په دې نورویيګانو کې داسې نه ده؟ ، هغه په اسم، فعل اوصفت کې نه راځي؟

که راځي،نو د هغوله پاره بیا ولې نورې ییګاني نه لیکل کیږي؟

که داسې محته لاړ شو، نوکومانمې دی، چې موږبه بیا په پښتو کې شل یا څلرویشت ییګانې ولرو.

پښتو به لهستونځو نه ډکوو.

## د ډېر درانه استاد غظنفر لیکنې باندې

داکتر ماخان،، میږی،، شینواري د ۲۰۱۲ ز.ک. د مای نهم. بن المان

،، تل تر تله،،

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د پورته سرلیک لاندې د Sunday, 05.06.2012, 11:51am (GMT) د استاد غضنفر یوه لیکنه ولوستله او زه یې هم دې ته را وهڅولم، چې له دې املې خپل اند، د ګرانو لوستونکو سره ګډ کړم.

زه ژبپوه نه یم، خو بیا هم زما په اند په ژبه پوه یم. زه په ګرامر، چې قید، ضمیر او داسې نور څه دی؟ نه پوهیږم، خو لیکنه ، زما په اند، د ژبلیک - او ویینې دود سره سمه کوم. پوهیږو، چې ګرامر له ژبې راوستل شوی یا په ژبه شته قوانین د ګرامر له لارې روښانه کیږي او نومول یا بلل کیږي.

زما موخه دا نه ده، چې څه لیکم ، دا دې سم وي یعنې دا دې سم اندیز( منطقي) وي ، خو په یوه څه خبرې اترې پخپله یو ښه څه منځ ته راولي او اندونه سره نږدې کوي. زه له ډیرو کلونو راپه دې خوا د ژباړې سره لاس او ګریوان یم، نو داسې لیکنې سړی څه نا څه د ژبو د لارو یا اصولو سره بلدوي او دا د ژباړې څرنګوالی هم سړي ته لا روښانه کوي. ما چې په لیکنو کې د ،، تر ،، وی یا لغات ولید، نو زړه مې شو، چې په ،، تر،، څه ولیکم. له دې املې د استاد غضنفر څخه ډېره مننه، چې د ،، تل تر تله،، له املې یې دې لیکنې ته راوه هڅولم.

ما د ،، تر،، په هکله لیکنه کړې، نور څه پرې نه لیکم( زما د پرېپوزیشنونو کتاب په کتابتون کوم کې کتل کیدی شي)، راځم دې خپلې موخې ته.

راځئ چې د ا د ،، تر ،، ترن وی یا پرېپوزېشن بیا هم وڅیړو، چې څنګه کارول کیږي. ،،تر،، چې کاروو، نو دا به په اړیینه توګه یوه پوله لري که دا د اوږدوالي واټن یا د.وخت واټن یا همداسې د ځای واټن پوله. یا د یو بل څه یا بل کوم یوون(واحد) وا ټن پوله وي.

یعنې دا څه؟

موږ وایو: له کابله تر جلالاباده. دا که پوره ولیکو، نو داسې به وي: له کابل څخه تر چلاباد پورې. یعنې کابل پیل دی او جلالاباد پای یا پوله ده.

پوښتنه مو هم همداسې ده.

پوښتنه: دا سرک له کومه ځایه (څخه) تر کومه ځایه (پورې) پوښ دی؟

دا سرک له هسکې مینې تر چونۍ (پورې) پوښ دی.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګورو تر کومه ځایه یوه پوله ټاکل دي او ،،پورې،، هم پوله په ګوته کوي.

که ووایو: زه هسکې مینې ته خم او سپینګل له ما وپوښتي، چې ته هلته تر کومې ورځې پاتیږې؟

که زه ورته ووایم، چې تر شپږم( پنجشنبې) پورې، نو دلته هم کومه ورځ د پولې پوښتنه ده او ځوا ب يې هم پوله ده ....

که ووایو: د سپینګل کورنۍ له لمسي تر نیکه زړور کسان دي یعنې له لمسي څخه نیولې تر نیکه پورې زړور خلک وو یا دي، نو ګورو ، چې نیکه پوله ده ( تر نیکه پورې؟؟؟؟).

اوس راځو ،، تر تله،، ، ،، تل تر تل،، او ،، د تل لپاره،، ته. دا ټول په هغه خپل اړوند ځای کې ټیک دي او باید هم همداسې وي.

دلته هم دا یواځې په جملو روښانه کوو.

،،د... لپاره،،: زه د لسو ورځو لپاره کابل ته ځم. زه د تل لپاره په المان کې پاتیږم یعنې د ژوند ترپای.

ګورو چې دلته هم ،،تر،، بیا پوله په ګوته کوي. زه په یوه وخت کې د تل لپاره له دې نړۍ ځم.

ترتله: زه دا اند لرم او زه به تر تل پورې ( او هغه بل يې ،، د تل لپاره) په دې اند پاتې شم.

زه نن کابل ته ځم او هلته د جون تر ۱۴ پورې پاتیږي. ... هلته تر ... پاتیږم. د درې ټکو په ځای که تل راوړو، نو هم ټیک دی.

رحمان با با وایي: ،، تل تر تله برقرار دی رب زما،،

یعنې رب له تل څخه برقرار دی او تر تله پورې برقرار دی.

استاد غظنفر لیکي:
،،که څوک د متوفي په اړه ولیکي چې : هغه له موږ د تل لپاره لاړ ؛ دلته يې نه ( تل ) او نه هغه د کلاسیکو اثارو عبارتونه معادل دي. ځینې خلک ( د تل په مخه ) عبارت

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعمالوي چې شايد ( د تل لپاره) تر ګردو نږدې معادل وي. موږ ويلای شو چې : هغه له موږ د تل په مخه لاړ.

( تل ) ډېره لنډه، يوه سيلابي کلمه ده خو د ابديت لويه معنا پکې نغښتې ده. په همدې وجه ډېر ځله ليکونکي د هغې ترمعنوي ( ماخان: د معنوي اثر لاندې ...)اثر لاندې راشي او يو څه نور توري ورسره زيات کړي چې په صورت کې يې هم د محتوا قوت پيدا شي.
پخوانو چې ( تر تله ) جمع کړی او ( تر تلو) يې بللی دی، يا بې د ( تر تله ) په ځای ( تل تر تله ) راوړی دی، وجه يې همدا د ټينګار غوښتنه ده.،،

هر څه چې پيل لري، هغه پای لري او همداسې هرڅه چې پای لري هغه پيل هم لري.

دا داسې کيدی شي چې ورسره ونه ويل شي، خو همداسې ده، لکه: زه تر... دلته پاتې يم، نو ګورو، چې دايو پيل لري. که ووايو، چې تر تله، نودا به هم يو پيل ولري، چې ددې له پاره بيا رحمان بابا ليکي: ،،تل تر تله،،

زموږژبپوهان، چې ما يې په هکله له څوتنو اوغوره تنوسره خبرې کړي، هغوي هم د استاد غظنفر په اند دي، خوزما په اند دا زموږد سم اند سره سر نه لږوي، چې د پای سره پيل بايد مل وي، ګه ور سره وويل شي اوکه نه او همداسې په ځټ.

که د چا ژوندواټېن غواړووليکو، نودا داسې ليکو:

سپين د ژوند واټن: له پنځم د ورې ۱۳۴۰ څخه تر اتم د جوزا ۱۳۸۰ پورې

دا پورته کړی شوبې له ،، له،، هم وليکو:

پنځم د ورې ۱۳۴۰ تر اتم د جوزا ۱۳۸۰

موږکړی شو، چې همداسې وليکو: تل تر تله. دلته مو هغه ټاکلی وخت په ګوته نه کړ، خو هغه ورسره شته او دا وخت ،، تل،، دی.

نو د رحمان بابا د شعر موخه هم له تل څخه دئ او هغه تر تله پورې دی.

لنډ : له تل څخه برقراردئ رب زما او ترتله برقراردئ رب زما.

تل تر تله برقرار دئ رب زما.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه: که پای يې تل وي، نو پيل به يې هم تل وي يا په څټ: چې پيل يې تل دی،نوپای يې هم تل دی.

لنډ: رب تل شته او تل به وي. يا

رب له تل څخه تر تله برقرار دی.

## دريمه برخه

## په نورو ژبو کې شته اوپښتو انډول يې

په دې برخه کې ځنې ورځني څه، چې په نوروژبو شته او موږ يې لا تراوسه انډول نه دی پيدا کړي.

زه خو په دې انديم، چې زه څه ليکم، هغه دې هرومروسم وي، ځکه چې زه د همدومره ليکنې د فکرتوان لرم. زما په اند زه هڅيدلی يم، چې څه ليکم، په هغې سره پوهيږو.

ژبې سوچه کيدی نه شي، خوزه هم هغه ويونه کاروم، چې تراوسه د پښتو د خوب کټ لاندې پراته وي، خوهغه ماته سم برېښي، ځکه داسې نه دي، لکه بهيدونکي، چې په پوره نسمه توکه اوبلن وبولم اويا ستاندارد ته کچه ووايم.

زما د ليکنو په هکله ستاسود کړنو او مخامخکړنو ( دا بيا د دې وی يعنې ،،مخامخکړنو،، د لومړي ځل له پاره کارونه ده، خو موخه ترې پوهيدل کيږي) هيله هم لرم.

زه ستاسومخامخکړنو ته درناوی لرم اوخپلې کړنې به ورسره هرومروسموم.

لنډ: څه مودې پيداښتي نومونو ته بايد په پښتوکې انډول ولرو اودا لرو، د لړو ځانګړنو سره:

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نومونه نه جوړوم. زه کوم د بلې ژبې وی، چې کاروم، هغې ته په پښتو کې انډول لټوم او دا تل د زیاتوله پاره لرو. زه نومونه نه پیدا کوم، زه هغه لرلي نومونه گرانولوستونکو ته مخکې ږدم.

ځني لیکوالان وایي،چې دې د ...ژبې وی ... ته څه ووایو؟

دا باید وڅیړو، چې هغه وی یې پیدا کړو، لکه، چې زموږ د لیک لوست ژبه کې زموږمشرانود مایع له پاره خپل انډول نوم نه وو کارولی، نودا یې ورته غوښتل پیدا کړي، خو انډول یې پیدانه کړ او ناسم انډول یې ورته وټاکه.

دا ولې؟

دا ځکه چې دوی دې ته فکر نه وو کړی اویا یې فکرنه شوکولی، چې مایع څه شی دئ.

دوي دې ته پام نه دئ کړی، چې مایع یو خوي دئ او دا خوي د تنونو یا شیانو یوټولگی جوړوي یعنې ټول هغه څه ته مایع وایي، چې بهیږي، دا دی، بې له دې چې نورمخ ته ولاړ شو، د مایع انډول پښتو مو وکاراوه یعنې بیهدونکي.

## پوهنیز نومونه:

په پوهنه کې نومونه - په ځانگړې توگه شمیرپوهنه او ځمککچپوهنه کې - یواځني دي یا یویواځني دي، دا په دې مانا چې هر نوم یوه او ټیک یوه څیره په گوته کوي او هره څیره یو او ټیک یو نوم لري. نومونه څوک په خوښه – چې څه یې زړه غواړي - نه شي ټالکل.

بیلگه: مستطیل ته به نو په پښتوڅه ووایو؟
په مستطیل نه پوهیدم، نودابه په بله ژبه کې گورم. انگرېزي اوالماني کې ورته rectangle and Rechteck وایې، نو له دې امله په پښتو کې – که دا سم وژباړو او دا چې څیرې دي، نو له دې امله ښځینه نومونه دي – ولاړگوډئ او یا کټمټ ولاړکونجئ بلل کیږي، چې هرڅه ترې پوهیدل کیږي اوبل نوم ورته نه ټاکل کیږي یا نه ټاکل کیدی شي. دا چې سخت، نابلد او یا بل څه ډول دی، دا کوم بندیز نه دی، دا همداسې دئ اوبس.

ایا هغه څه چې په نوروژبوکې شته زموږ په ژبه کې هم انډول لري؟

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو.
نو ولې موږ ځنو شیانو یا ویونو ته په پښتو کې نومونه نه لرو؟
دا ځکه چې موږ په نوروژبویا نه پوهیږو او یا مو پام ورته نشته یا یې له پامه غورځوو.

هغه نومونه اوخویونه،چې په پښتوکې تراوسه ورته د چا نه وي پام شوی، نو زموږ پښتانه پیداښتي ده، چې هغو ته نومونه پیداکړي، خو ستونځه په دې دوي ورته نوم پیداکوي اودا سمه نه ده،ځکه چې پهکې تیروځي.
د هر څه له پاره، چې په بله ژبه کې نوم وي، نوپه پښتوکې هم ورته انډول شته، خودا چې موږ په نورو ژبونه پوهیږواویا زیات وخت دا نومونه له هغه چاپښولکیږي، چې په کومه دباندنۍ ژبه نه پوهیږي، چې له هغې څخه یې راواخلي اوکه غواړی، راوژباړي او یا لږتر لږه له هغه چا وپوښتي اوخبرې ته یې غوږکیږدي، چې په یوه دباندنۍ ژبه پوهیږي.

## Reflexionانعکاس یا(بیرته) راګرځیدنه

ازانګه ( انګیزه، انګازه): زما په اند به دا ،، د ازانګې به موخه ترې همغه د عربې ژبې انعکاس وي، چې په خلکو کې یې انعکاس ښه وي، یعنې دلته به ازانګه د انعکاس لپاره کارول شوې وي. دا ځکه وایم، چې داسې یو څه مې زموږد خورا درانه لیکوال ژورنالست، څیړونکي ښاغلي رفیع څخه اوریدلي( خداي(ج) دې وکړې چې دا مې ناسمي نه وي کړي او کومه ناسم پوهیدنه زما لخوا دلته نه وي رامنځ ته شوي، زه مخ له مخه د ښاغلي پوه څیړونکي رفیع صاحب څخه ډېره بخښنه غواړم ، په هر صورت زموږ د خبرو اترو موخه دا ،، ازانګه،، ده.

راځئ، چې له هر څه د مخه ( د هرڅه له مخه مې لیکلی وو، خو د دې لیکنې سره مې له هر څه د مخه کړ) په انعکاس ځانونه وپوهو، د زبپوهنې او فزیکې لار(قانون) له مخې.

که موږله کوټې په رڼا ورځ راووځو، نود لمر وړانګې چې په رڼه برېښنده شیانو ولویږي، هغه بیرته راګرځي اوسترګې موبرېښوي. کوږ هلته په کلي کې نه وایو، د لمرانعکاس یا رفلکشن مو سترګې راوبرېښولې، موږ وایو، چې د لمر رڼا بیرته راوګزیده او زموږ سترګې یې وبرېښولې. دا په دې مانا، چې دا رڼا په یو شي ، چې بیا روڼ برېښي لویږي اوبیا بیرته راګرځي. دا بیا په دې مانا چې موږ نو د انعکاس او یا رفلکشن له پاره بیرته راګرځیدنه لرو، همداسې که غونډوسکه په دیوال وولو،هغه هم راګرځي، یا غږپه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کې وکړو، چې هغه بیرته راګرځي. موږ اوس دا تر څیړنې ( دا ،، تر،، مې دلته ناسم ولیکه . سم یې د څیړنې اونه تر څیړنې) لاندې نیسو.

نو انعکاس د بیرته راګرځیدنې یا راګرځیدنې لپاره -چې انګریزي یا نوره هم ښه لاتین یې reflexion دی - کارول شوی.

ترهغې، چې زما فکر رسیږي د عربي وی یا لغات ،،انعکاس،، په پښتو کې د درې څه یا ددرې ډولونو لپاره کارول شوی:

که یو څه په هنداره کې بیرته راګرځول کیږي یا راګرځول کیږي ( دلته بیرته راګرځول او راګرځولو لپاره زما موخه همغه راګرځول یا راګرځیدل دي، موږ ورسره بیرته وایو، خو زه یې اړین نه بولم. دا به راګرځول وبولو) داهم ا نعکاس بولو.

که په غره کې غږ وکړو او هغه بیرته واورو یعنې راوګرځي، دا هم انعکاس دی، همداسې که یو څه په ولس کې وشي، که ښه وي یا بد دا په خلکو کې خوریږي، چې دا هم انعکاس بلل شوی.

لنډ: انعکاس په هنداره کې، انعکاس په غره کې د یوه څه د غږ انعکاس په ولس کې د یوه څه یا یوې شوې وینا انعکاس.

دا درې نومونې په ټولو ژبو کې په بیلو بیلو نومونو یادیږي. هغه څه چې هنداره کې بیرته راګرځي په الماني کې ورته ،،شپیګلونګ Die Spiegelung،، وایي او دې نورو دوه وو ته اېښو یا اېکو(اکو) Echoوایي، چې لاتین دی موږ په پښتو کې هم د اسې نومونې لرو.

د اخرو دوه وو لپاره انګازه یا انګیزه(؟) کاروو، چې له دې امله پخپله هغه دعربي انعکاس دی او ازانګې یا بل څه نومونې ته اړتیا نه شته او په غره کې د غږ خوریدا هم انګازه یا انګیزه ده، یعنې خورشوی، چې موږ ورته انګی ویله او غږ به مو وکړ، چې انګی انګی یو غږ بل هم راوکړه.

که په هنداره کې یو څه یا یوه څیره (بیرته) راګرځي، نو هغه څه باید ونومو، د عربي انعکاس په ځای. دا په هنداره کې یوه څیره چې (بیرته) راګرځي، وایو چې دا څیره هنداره کیږي. دا چې دا څیره هنداره کیږي، نو دا خو له هندارونې( هنداره کونې) بل څه نه دي، یعنې دا په هنداره یا اینه کې انعکاس هندارونه یا اینونه بولو( هغه ستاسو خوښه هنداره

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم مو ښه راځي یا پښتو دی او که اینه). یعني دې انعکاس ته هنداروته یا اینونه وایو. دا د پښتو ګرامر په بنسټ سم دی

نو ګرانو لوستونکو!

ګورو چې د ازانګه په پښتو کې کومه ترې بله پوهیدنه نه لري، یعني ازانګه هم دا موږ دلته بللې ا نګازه یا انګیزه( ؟ ) ده، چې په خلکو کې خوریږي، خو که غواړی، دا ازانګه وبولی همخوښه مو، کیدی شي.

،،اېکو یا اېښو یا انګازه یا انګیزه منځ ته راځي، که د غږڅپې داسې په زواک یا قوي وځنډیږي، چې سړی دا غږ بیل بیل د اوریدلاس ته راوړني یا -نتیجې که غواړي د اوریدپایلې په توګه واخستلی یا احساس کړی شي. سره راټول یا سره یوځای شوې concentrate رفلکشنونه یا دا بیرته راګرځیدنې(چې عربي کې ورته انعکاس وایي( شاید، زه په عربي نه پوهیږم)) د اکو یا انګازې یا انګیزې په څیر اوریدل کیږي. د اکو وی یا لغات د یوناني Hχώ' څخه راغلی یا رانیول شوی دی.،،

که دا په هلمند کې شوې غونډې غږ خلکو ته ورسیږي، نو په خلګو کې خوریدا یې همداسې په پرلپسې ډول منځ ته راځي، چې دا هم همغه د غره په څیر خپله انګیزه په خلکو کې خوروي. له دې امله دا هم انګیزه یا انګازه ده او که ازانګه یې بولی، هم خوښه مو.

لنډ بیا:

لومړی: په په هنداره کې د یوه څه بیرته راګرځیدنه هنداروته بولو او

دویم: په غره کېد غږ بیرته راګرځیدنه انګیزه،انګازه یا ازانګه بولو اوبیا همداسې

دریم: د یوه سیاسي کس وینا، چې اغیز یېد خلکو لهخوا بیرته راګرځي،هغه هم انګازه، انګیزه یا انګازه ده.

## جفت او طاق ته په پښتوڅه وایې؟

پوښتنه. ایا موږ پښتو کې د جفت له پاره په دې ورځنۍ ژبه کې انډول وی لرو او که نه؟

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو: هغه څه، چې دوه کيدی شي، هغې ته عربي جفت وايي، چې پښتو انډول يې جوړه دی.

پيژند: هغه ګڼونه، چې په دوه وېشل کيږي، جوړه ګڼونه دي.

هغه ګڼونه، چې په دوه پوره نه وېشلکيږي، ناجوړه ګڼونه دي.

لومړی:

ايوه يا ييوه چې څوک کوي او يو غويا (غوايی) ولري، نو جوړه ورته پيدا کوي. دا د غويانو جوړه ده، چې بيا سره دا جوړه ځغلي. څوک چې بوټان اخلي، نو د دباندنی اغيزو پرته به جوړه بوټان اخلي. او که په ټاکنو کې سره برابر ځغلي، نو همغه د ييوې او يا ايوې د غويانو په څير به دا يوه جوړه وي، چې دا جوړه بيا جوړه سره ځغلي. نه ليکو، چې غبرګ سره ځغلي، ځکه چې که جوړه نه وي هم غبرګ کيدی شي او يا غبرګ دي،، ځکه چې ګډ ووټونه يا رايې به نه لري، چې يو بل غوڅ کړي.

که يوه نجلۍ او هلک داسې لړ‌په خوي کې سره نږدې وي، نوکيدی شي چې ووايو: دوي به يوه ښه جوړه وي.

دويم:

د جوړه مخامخ څه بولو؟

عربي يې طاق دی، هغه چې جوړه نه وي يعني ناجوړه وي، نو ګوروچې پښتو بلل يې ،، ناجوړه،، دی.

راځوشميرپوهنې ته

ګڼونه : هغه پيداښتي ګڼونه چې په دوه پوره وېشل کيږي، هغو ته جوړه ګڼونه وايو اوهغه پيداښتي ګڼونه، چې په دوه پوره نه وېشل کيږي، هغوي ته ناجوړه ګڼونه وايو. ګوره زه ورسره دلته پوره نه ليکم، ځکه چې اړتيا ورته نه شته. پيداښتي ګڼو چې په پيداښتي ګڼ وېشل کيږي او لاس ته راوړنه يې پيداښتي ګڼ وي، نو،، پوره،، ته يې هرومرو اړتيا نه پيښيږي.

جوړه ګڼونه: ۴ و۱۶، ۲۸ ...

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناجوړه ګنونه: ۱۵،۱۳، ۲۷ ....

## ستونځوبی

یو پوهان را څخه وپوښتل، چې د ستونځوحل ته څه وایي؟
ما ورته وویل، چې ستونځوبی.
دا نوولي؟

اوس دې نړۍ په هراړخیزه پوهنو کې دومره وده کړې، که څوک، چې څیړني کوي اوپه داسې پرمختتلې ژبه وپوهیږي،نو د هر څه له پاره په پښتو کې هم هغه اړوندوي پیداکولی شي.
لرو: ملګوبي، چې انګریزي یې salt solution دئ.
لنډ: زه به د خوي له مخې لکه پورته د ،،اوروبي،، په ځای، چې له اورغورځوني منځ ته راځي یا پایله ده، اوربهیدنه، اوربهیدونکي... وبولم. په مننه

محلول ملحي saltzlösung
حل lösung ، solution

مخامخکړنه (عکس العمل):
دا مې همدااوس فکر ته راغی، چې د یوچا د کړني سره چې څوک غواړې مخامخوالی وښایي، نودا به هرومروزما په اند مخامخکړنه وي.
که غواړئ، نو د همغه ،،عکس العمل،، سره پاتې کیږو.

## په ورځني ژوند کې ، چې ورسره مخامخ کیږو

څنګه یې بولی؟
له الماني څخه ژباړه یې
۱ - پلني د ربړ پټی، چې له ژوري سکاره راپورته کوي:
۲ – په مغازو کې چې تل ګرځي اوشیان له یوه ځای څخه بل ځای ته وړي.
۱ – وړونپټی: یعني یوڅه له کښته پورته وړي.
۲ ـ بهیدنپټی: دا تل روانه پټی ده، له دې امله بهیري یعني بهیدنپټی.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتوکې د زياتو ويونو له پاره انډولنه شته يا موږ( زه) نه پرې پوهيږم لکه

## معنـي:

د عربي ،،معنی،، له پاره موږ پښتو نه لرو، نو که پښتو يې ،،مانا،، وليکو، دا به منو.

همداسي د قطب له پاره هم پښتو انډول نه شته.

داسې ويونه هم بايد چې څنګه وي خپلې ژبې ته راواخلو، لکه چې رانيولي مو دي، که ليکندوديې د ځنوله پاره بدل شي،دا په ټولو ژبوکې ورځنی دئ.

د بلې ژبې هر څه يا هر وی له پاره، انډول لرو، خودا بايد پوهنيز ولټول شي.

داسې خو ما فکرنه کاوه،چې شميرپوهنه دې داسې سمه په پښتوشي، خودا چې دا نومونه او ويونه ټول پيداپښتي دي، نوزموږژبه هم دا ويونه لري اودا به يواځني وي، دا په دې مانا،چې هر شميرپوهنيز يا هندسي څه پښتو انډول هم لري.

خوبايد په دې اند نه و اوسو، چې ژبه دې سوچه کړو.که زما ليکنې وګورئ، سمې په پښتودي، خودا موږله پيداپښته لرو، نوي مې منځ ته څه نه دي راوړي اوداسې بايد ونه شي، ومو کتل، چې څوک په خپله خوښه يوڅه يا يو وی په پښتو کوي، په هغې کې ناسمونونه راځي.

ګرانو هيوادوالو!

موږ پوهيږو، چې پښتو په دولتي څلورديوالي کې يوه ډيره پخوانۍ نوي، نږدې شپيته کلنه ژبه ده، نو له دې امله يې علمي کول او د ځنو ويو په پښتو کول يا ورته پښتو پيدا کول هم ستونځمن دي. له يوې خوا موږ چې څه زده کړي يعنې زموږ ټوله زده کړه هغه په پښتو نه ده او له بلې ژبې مو را اخستې او له بلې خوا په دا بله ژبه مو چې څه زده کړي، هغې هم ډير ويونو(لغات له عربي رانيولی)، چې موږ يې له دې امله د ډېل ستونځو سره مخامخ کړي يو. زموږ دا نږدې شپيته کاله مخکښيو په پښتو ليکونکو، څه له فارسي رانيولي، هغه په فارسي کې د عربي ويونه يې هم ورسره شايد ( ياممکن) کټمټ رااخستلي وي. بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه دا هم ده، چې هغه عربي نومونه چې موږ يې د پښتو نومونو لپاره کاروو، ايا دا سم دي او که څنګه؟

دا هم بله پوښتنه ده، چې بايد پام ورته وشي.

## ايا موږ پيداېښتې پوهنې په پښتو ليکلی يا پښتوکولی شو؟

په دې هکله اوږدې خبرې نه کوم، لنډ يوڅوبيلګې له تاسوسره شريکوم.

مشبوع به نوځه وبولو؟

نه پوهيږم، چې له فزيک ، کيميااوکه له بيلوژي به وي،خوداسې مولوستلي:

-- محلول چې نور مواد ځان کې نه شي حل کولی، مشبوع بلل کيږي.

يو څوک چې ډېرخوراک وکړي هم ورته وايي، چې مشبوع شوی اوميږي، چې ډېر واښه وخوري. نو وايو چې ميږه ټنډه شوې .

يو څوک چې نوره مړی نه شي خوړلی، خوموړوي او همداسې نورژوي مړيږي.

کوچنيانو ته هم چې موږډېر خواړه ورکړي، راګرځوي يې.

په همدې توګه مو محلول يا حل ،،اوبی،، بللی، نومشبوع ته به څه ووايو؟

لکه چې ژوي مړيږي، خو همداسې يو اوبی هم مړيږي.

داسې وايو: هغه اوبی چې نورڅه ځان کې نه شي اوبی ( دا ګوره اوبه کولی نه بولو) کولی موړ وي.

مشبوع = موړ

بيا وايم، چې دا بل ډول نه شي بلل کيدی، دا په دې مانا، چې نومونه به نه جوړوو، هغه خپل نومونه به رابرسيره کوو يا له کټلاندې څخه راباسو.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له شمیرپوهنې څخه یوه بیلګه:

ما خو ټوله شمیرپوهنه په پښتو لیکې، خو بیا به هم یوه بیلګه له تاسو سره ګډه کړم:

دایره، چې د دایرې د منځني یوه لړه برخه قوس بولو او وتر او قطر لرو.

په پښتو یې:

ګردۍ ( موړیې په هسکه مینه کېګردۍبولو)، هغه وړه د ګردي د کړې برخې ته ،، لینده،، وایو.

دایره = ګردۍ

قوس = لینده

وتر : هغه کرښه ده، چې له ګردۍ یوه ټوټه بیلوي، نو دا له دپامله ټوه وونی ( ټوټوونی) بولو( بولویې نه،دا ټوټوونی دي).

وتر = ټوټوونی

ټوټه: د ګردۍ هغه هواره، چې ده چې د لیندې او ټوټوونې په منځ کېپرته ده ( زه ګورۍ ،، ترمنخ او،، په منځ نې،، نه لیکم)، دا چې ولې؟

دا منځ پرېپوزېشن دی او منځتکی نه په ګوته کوي اود ،، تر،، لیکنه خو یې سوچه بوچه ناسمه ده. په دېه هکله دې زما د پرېپوزېشنونوکتاب و کتل شي.

قطعه = (ګردۍ) ټوټه

نیمۍ: هغه کرښه چې ګردۍ نیمۍ نو دا به نیموونې نه وي؟

قطر = نیمۍ ( اړیین ده چې کرښه ورسره یاده، پوهیږو، چې دا کرښه ده.

ګردۍ برخه: دا د ګردۍ برخه ده، چې د دوه وړانګو او ګردۍلیندې منځ کې پرته ده.

قطاع = ګردۍ برخه

وړانګه خوشعاع ده.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له فزيک څخه

سيم يا څه، چې بربښنا وړي، نو هغې ته هرومرو ،، (بربښنا) وړونې دي او له دې امله يې بربښنا وړوني يا وړوني بولو

دا د ښوونځي د فزيک نړدې ستره برخه مې پښتو ته را اړولې. په دې هکله مې ليکنې کتلی شی.

دا د ګرانو لوستونکو له پاره يو څه وړاندې کيږي، چې کتل او اندونه سره يو کول نه، سره نږدې کول يې زما هيله ده او نه بل څه.

نومونه يا ويونه بايد پيدا نه شي. هر څه چې په پيداښتي توګه په بله ژبه کې شته، په پښتوکې هم شته.

دوه پوښتني دي:

لومړی: يو څه ته په پښتو نوم ايښول ( دا به د خبرو وي)

دويم: د يوه څه په مانا ځان پوهول ( دا بايد وي)

نو که د دې ويونو مانا ولیکويعني مخکتاب، نړيوال جال، ملفون، شميرونی،دا به اړيين وي. دا چې څنګه يې وبولو، دا بايد په پام نيولشوي وي،چې تخريب په کې نه وي.

بيلګې: بهيدونکوته اوبلن ويل، د سلمي په ځای سلنه ،ستاندارد يا معيار، سطحې، ليول، نيوو په ځای د کچې کارول، چې دا ټول دېرناسم دي.

# څلورمه برخه

## د ژباړې له پاره يوه ننوتنه

دا برخه ځکه دلته په ورزياتوم، ځکه دا هم مرسته کوي، چې څنګه ويونه يا ليکنې په پښتو موخه ورې وژباړو. په ژباړه کې غوره دي، چې ويونو انډول بللو ته پام وکړو.

سريزه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ هیواد یو وروسته پاتې هیواد دی. د کتابونو له مخې هم کمزوري دی. خپل پوهنیز څه نه لرو، نو د نورو پوهنیزو لیکنو او ادبیاتو ته اړکیږو یا اړ یو.

ما په پښتو ژبه کې د ژباړې په هکله داسې ډېر څه نه دي لوستي، نو ګومان مې دی، چې ډېر اړخیزه لیکنه ( ښېرنه راته لږ درنه ښکاري، له دې امله یې ښېرنه نه لیکم) به هم بده نه وي.

زه خپله د ژباړې سره پوره یعنې لږ تر لږه له 1998 کاله راپه دې خوا هره ورځ سر او کا رلرم، له دې امله مې هم په دې کې په هراړخیز ډول فکر کړی، چې د ګرانو لوستونکو سره یې شریکول اړیین بولم. دا به د هغه چا له پاره پوره مرسته وکړي، چې غواړي ژباړو ته ځان چمتوکړي.

له بلې خوا مو په دولتي څلوردیوالی کې ژبه ځوانه ده، نو که د ژباړې اړوند هرڅومره ډېر یا هراړخیز څه ولیکل شي، نامناسب به نه وي. دا چې زما رېښه شمیرپوهنه ده، نو پیداښتي یاطبیعي ده، چې په دې اړخ به ډېر زور اچول شوی وي او دا راته پوره اړین هم برېښي.

## ژباړې ته څه اړتیا شته؟

دنړۍ هراړخیزه وده د نړۍ هیوادونه او قومونه سره نږدې کوي، په منځونو کې یې تجارتي او هم پوهنیزې اړیکې زیاتیږي. د هیوادونو په منځ کې د راکړوورکړو اړیکې زیاتې شوې، نو د تجارت په اړخ کې د تولید د رد او بدل له امله باید د تولیداتو په هکله معلومات یو له بل سره په اړونده ژبو ډېر شي، نو له دې امله ژباړې ته پوره اړتیا پیښیږي.

دانه تنها تجارتي اړیکو کې داسې ده دا په پوهنیزه اړخونو کې هم همداسې ده. په مختلفو هیوادونو کې د پوهنې د مختلفو اړخونو وده مختلفه ده، چې د یوې ژبې څخه و بلې ژبې ته یې اړونه په هر هیواد او هره ژبه کې اړیینه کیږي.

افغانانو په ځانګړې توګه پښتنو ته خو د ژباړې اړتیا بیخي زیاته ده او دا له دې امله، چې موږ په خپله ژبه هیڅ نه لرو، ژبه مو ځوانه ده . له یوې خوا یې وده نه ده کړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنیز ترې رانیوني له پاره څه نه لرو او له بلې خوا مو دا څه چې رانیولي، هغه هم د پرمختتلو ژبو څخه نه دي.

موږ چې څه لرو هغه مو زیات له فارسي رانیولي، چې له یوې خوا په فارسي کې هم په دې هکله ستونځې شته او له بلې خوا مو دا څه چې رااخستي همغه زیات یې په خپله د فارسي نه دي، چې هغوي یې دا زیات له عربي رانیولي په ځانګړې توګه نومونه او خویونه.

## د پښتو پوهنیزې لاس ته راوړنې د کومه شوې؟

دا چې هیوادوالو مو د څلوېښت کالو را په دې خوا په جنګ کې تیر کړي، نو هراړخیزه د تباهی او نابودۍ سره لاس وګریوان یو، نو له دې امله په پوهنیزه اړخ کې کومه لاس ته راوړنه نه شو لرلی. هغه پخوا یا دمخه مو هم د ژبې له مخې کومه وده نه وه.

دا چې موږ ټولې پوهنې له نورو ژبو یعنې فارسي او کله کله له عربي رانیولي، نو نومونه اوخویونه مو کټمټ رااخستي او راته داسې معما غوندې بریښي. که دا نومونه بیا په پښتو کوې، دا بیا یوه معما ده، چې د ډېر عمر خاوندان یې درسره نه مني، دا په ځانګړې توګه په تخنیکي پوهنوکې. ما د علومو اکادمي د شمیرپوهنې او فزیک په څانګه کې و پوښتل، چې د،، کري،، معنا په پښتو څه ده، یا کره څه شي دی، نو ټولو ویل، چې لکه د ځمکي کره. یوه ورځ یو ملا راغی، لږ داسې په عربي راته پوه بریښیده. ما د کرې د معنا ترې وپوښتل، هغه سملاسي وویل، چې غونډوسکه یا توپ. که ګوګل ته فوټبال په انګریزي ورکړی، نو کرته القدم معنا درکوي، خو که په ښوونځي کې ښوونکو ته هم دا وواېې لمړی درپورې خاندي او بیا درته وایي، چې موږ د کرې سره بلد یو. دوي یې درسره نه مني، ځکه چې دوی ته غونډوسکه یو بې معنا څه بریښي او فکر کوي، چې کره خو یو غټ څه باید وي، نو غونډوسکه په شمیرپوهنه کې څه غواړي.

که شمیرپوهنې ته یو ځغلند پام وکړو، وبه ګورو، چې پښتو په کې خورا کمه لیدل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ له عدد، جمعي تفريق نيولي تر خط او داېرې پورې ټول داسې دپښتو نومونه نه دي راوړي يا نه دي کارولي، که څه هم دا نومونه په پښتو کې همغه له پيداېښته لرو.

## د ژباړې لاندې څه پوهيږو؟

په ژبپوهنه کې د ژباړې لاندې سرې له يوې خوا ( ليکل شوي) کره شوي ليکنه له وتونژبې (ترې ژباړ ژبې) په بوه موخه ژبه ( پرې ژباړژبې) اړول يا ښه يې ژباړل دي، دا ژباړه يا ترجمه بلل کيږي له بلې خوا د دې لاندې سرې د دې کړني يا کار نتيجه پوهيږو.

ژباړې د ژباړې له پاره دومره وخت نه لري چې هر لغات په دکشنري کې بيا بيا وګوري او د يوې بلې ژبې سره يې پرتله کړې شي.

زه چې کله د يوه لغات په ژباړه کې ستونځې وګورم، نو بيا يې د بلې ژبې سره پرتله کوم، که د بلې ژبې سره زياته بلدتيا هم ونه لرم، خو هغې موخې ته به کې رسيدی شم.

ژباړې کې يو څه چې له وتونژبې څخه وموخه ژبې ته اړولکيږي، نه دا چې خوندېونه او موخه يې په موخه ژبه بايد بيرته ورکړل شي، بلکه د موخه ژبې د خلکو کلتور او کړو وړوته هم په کې پام بايد شتون ولري. دا ژباړه يو په يو د وتونژبې اړول په موخه ژبه نه دي، چې له ژباړې څخه مخ ته بيول کيږي. دا د پرديو يا په بل اړخ د پردې کلتور څخه د خپل کلتور په پام کې نيولو سره کيږي.

## ټيکټاک يا ښه سمه ژباړه کومه ده؟

لومړي اري يا اصلي پوښته دا نه ده، چې ټيټاک ژباړه کومه ده؟

اصلي پوښتنه په ختّه کې دا ده چې،، داسې يو څه يعنې ټيټاک ژباړه شته؟،،.

داسې يوه پوښتنه ساده ځوابوو او وايو، چې نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ټیکټاک ژباړه به یوه سمه ژباړه وي، کومه چې  د ذهني ارزوني له مخې( د لیدونکي په سترګو) داسې برېښي، چې ټیکټاک به وي.

که چېرې تاسو د مختلفو کسانو ژباړې وګورئ، نو کټمټ به نه وي. ښه ژباړه به هغه وي، چې د وتونژبې ( ترې ژباړې ژبې) خونديونې موخه په موخه ژبه ( پرې ژباړې ژبې) کې بېرته ورکړ شوې وي. بیا هم د مشتري له پاره هغه ښه ژباړه ده، چې د هغه خوښه شي.

دا پوښتنه بیا هم رامنځ ته کوو، چې مشتري د ژباړې څخه څه غواړي؟

ښه ژباړه. دا نو کومه ده؟

دا هغه ژباړه ده، چې د وتونمتن یا وتونخونديوني ټولې برخې  اصل ته وفادار بېرته ورکړ شي یعني په موخه ژبه کې باید خوندي وي.

د لیکونکي د فکري توان خونديونه باید پوره په موخه ژبه کې ورکړ شوې وي، بې له کومې ښکلاینې او یا محدودونې، فشار او یا توګنې.

دا باید د لیکونکي موخه لور د بنسټ په توګه ولري.

دا باید طبیعي، ساده پوهوړ لیکل شوې وي لکه اصل.

## د ژباړې دنده:

له دې د مخه چې ژباړې ته راځم، د ژباړې او ژباړو موسسو غوره والي او د دندو جدیت ته راځم.

د ژباړو دنده لړ تر لړه دا هم باید وي، چې ځنې ناسم نومول شوې شیانو ته د سمې نومونې لارې چارې و لټوي. د بیلګې په توګه که یو ژباړی د ،، ستاندارد،،  نوم سره مخاخ کیده، نو دا دې ،، کچه،، نه بولې، ژباړی باید د نومونو په معنا پوره واک ولري.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو ته د ژباړو دنده له دي درنه ده، لکه چي دوي ورته فکر کوي، ځکه چي زموږ ژبه باید په ژباړه تکیه وکړي، بله لار مو نه شته. خپل څه نه لرو، هغه څه چي باید ولرو، هغه باید ژباړې وي، یا که لیکني وي، نو هغه هم باید د پرمختللو ژبو راټولې شوې لیکني وي. هغه موّسسي، چي د ژباړو درنده دنده یي په غاړه اخستي ډېر مسئولیت لري، چي اړتیا سره سم ژباړو ته پامرنه وکړي او زما په اند دا دژباړې موسسي باید د ښه ژباړو له امله د دولت له خوا ملاتړ شي او د نورو پوهنیزو موسسو په څنګ کي اقتصادي ملاتړ شي، ځکه چي موږ په ژباړو ولاړ قوم یو، ژبه مو باید د اړتیا سره سمه وده وکړي او دا د ژباړې له لارې شوني دي.

نه دا چي یو مسلک څومره غوره دی، بلکه په تولیزه توګه ژباړه څومره غوره او مهمه ده. د پوهنیزو څېړنو له پاره یواځنۍ لار دا ده، چي د ژباړو له لارې کتابونه زموږ ولس ته وړاندې کړو، هغه څوک ، چي پوهنیزې څېړني کوي، دا بې له دباندنۍ پرمختللي ژبې د ښه پوهېدو له امله ناشوني ده او پسي لار یې د ډېرو کتابونو ژباړه ده..

د ژباړې موّ سسو او همداسي د ژباړي مسئولیتونه زیات دی، چي ولس ته ښه او سمه ژباړه وړاندې کړي.

## ژباړي باید څوک وي؟

ژباړونکي باید مسلکي خلک وي، ژباړي څو کاله په دې برخه کي باید د پوهنتون څخه وتلي کسان وي، چي دامسلک  یعني ژباړه یي لوستلی وی. دا د دیپلوم ژباړي، په ژبه کي وارد دي او په دواړو ژبو برلاسي لري.

زموږ دپاره ژباړي باید لږ تر لږه هغه کسان وي، چي په موخه ژبه اووتون ژبه ښه پوه وي او د مسلکي ژباړې په مسلک بایدښه برلاسی وي.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځو ډوله ژباړه شتون لري؟

که په شډله توګه يې ووايو دوه ډوله ژباړه شتون لري. يوه يې د ادبياتو - او بله تخنيکي ژباړه ده، چې دواړه زيات په ژبه بلديدو ته اړتيا لري، دومره توپير لري، چې تخنيکي ژباړه ټکي په ټکي ( موخه داده، چې هرلغات بايد وژباړل شي) بې ځانګړي پام ځخه موخه ژبې ته اړول کيږي. تخنيکي ژباړه اړتيا نه لري، چې لوستونکو باندې روحي اغيز ولري او ځان ته يې راکاږي، بلکه يو ټاکلي معلومات وړاندې کوي.

د ادبياتو ژباړه کې هم بايد هغه ښکلا او راکښنه شته وي اوپه لوستونکو همداسې اغيز ولري، لکه وتونژبه کې چې شتون لري.

## د ژباړې غوره والي.

ګرانو هيوادووالو. زه د ژباړې د اهميت ځخه چې غږيږم، کله، کله يا زيات وخت نومونو ته راځم، ځکه چې موږ ډېر ځه په ځپله ژبه نه دي نومولي، نو دا ځه سره چې سر او کار لرو په پښتو راځخه نوميږي يا نور هم ښه راځخه بلل کيږي، ځکه چې نومونه شته. زه په دې ټينګار نه کوم، چې دا زما نومونه دي سم وي، خوزه وايم، چې دازما نومونه نه ده، بلکه دازه يې چې ځنګه بولم راته ورځني نه دي، مګر د ولې له پاره يې دليل راوړم.

## موږ دوه ډوله ليکنې لرو.

لمړي پخپله په يوه موضوع خبرې کول او دويم د بل خبرې له بلې ژبې رااحستل دي.

که يو ځه پخپله ليکو، نو نور ،، ترې رانيونو،، ( مؤخذون۰ ( عربي لغات دی، خدای(ج) دې وکړي چې سم مې ليکلی وي، خو د سمی جوګه يې نه يم )). يې داسې رانيسو، چې ځه ترې پوهيدلي يو او ممکن هغه د بل ليکونکي موخه په کې نه وي راغلي، د سمون او ناسمون له پاره يې جوګه يو، مګر ځه چې ژباړو، هغه د هغه د

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخه ورې ژبې یا د ترې ژباړې ژبې د لیکونکي کار دئ، موږ یې خوندیونې ته د تغیر اجازه نه لرو.

## لږ ورزیاتونه:

دا لاندې غزونه به لږتکرار ویاولړبه له خپله ځایهوروسته راځي، خوسره له دېغواړمدا تاسوګرانولوستونکو ته وړاندې کړم.

ګرانو هیوادوالو! موږ پوهیږو، چې پښتو په دولتي څلوردیوالي کې یوه ډېره پخوانۍ نوې، نږدې شپیته کلنه ژبه ده، نو له دې امله یې علمي کول او د ځنو ویو په پښتو کول یا ورته پښتو پیدا کول هم ستونځمن دي. له یوې خوا موږ چې څه زده کړي یعنې زموږ تولډ زده کړه هغه په پښتو نه ده او له بلې ژبې مو را اخستي او له بلي خوا په دا بله ژبه مو چې څه زده کړي، هغې هم ډېر ویونو(لغات له عربي رانیولی)، چې موږ یې له دې امله د ډېل ستونځو سره مخامخ کړي یو. زموږ دا نږدې شپیته کاله مخکنیو په پښتو لیکونکو، څه له فارسي رانیولي، هغه په فارسي کې د عربي ویونه یې هم ورسره شاید ( یاممکن) کټمټ رااخستلي وي. بله پوښتنه دا هم ده، چې هغه عربي نومونه چې موږ یې د پښتو نومونو لپاره کارو، ایا دا سم دي او که څنګه؟ دا هم بله پوښتنه ده، چې پام ورته وشي

زه له ډېرو کلونو راپه دې خوا د ژباړې سره لاس او ګریوان یم، نو داسې لیکنې سرې څه نا څه د ژباړې د اصولو سره بلدوي او دا د زباړې څرنګوالی هم سړي ته لا روښانه کیږي.

که ژباړه کوو، نو باید په ترې ژباړه ژبې (وتونژبې)هر وی یا هر څه وژباړل شي یواځې پرې ژباړه ژبې ( موخه ژبې) ګرامر یا لیکندود سره باید سم وي.

په ژبه کې ښکلی وي او ښه یا بد وي یا لغات نه شته. دا چې ژبه د انسانانو ده ، نو نا ښکلي او د هرچا د خوند سره سم به همغهسې ویونه هم لري.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژبو پيدا ښت، چي غبرګي پيدا شوي:

زه د ژبو د پيداښت څخه چي غږيږم، موخه ورڅخه د ژبو تاريخي منځ ته راتګ نه ديبلکه دا د نړۍ ژبې چي منځ ته راغلي يو د بل سره غبرګي - په همغه وخت يا يوپه بل پسي - د همغو يا ورته ستونځو په هکله منځ ته راغلي. د ژبو په منځ کي يو غبرګون يعني موازيت Parallelity شتون لري، د مخه يا ورپسيوالى به وي، خو سره غبرګي دي.

په هره ژبه کي د هغي بلي ژبي د وى(لغات) لپاره انډول يا برابر او که غواړۍ معادل وى يا لغات شتون لري او که نه نو انډول يي يا د بلي ژبي رانيسي او يا يي په خپله ژبه کي په مناسب ډول ورته پيداکوي.

که يو نوم ورځنى نه وي يعني کورنى شوى نه وي او غواړو پښتو يي ورته پيدا کړو، نو د نورو زده او پرمخ تللو ژبو څخه په همغه موخه يا برابر دا په پښتو کوو. که موخه ناسمه شوه، نو نوم هم بيا ناسم دى.

د بيلګي په توګه، که موږ مو په هيواد کي لا تراوسه ( پورې) شفاخانه يا بيمارستان يا د الماني Krankenhaus (معنا يې: د ناروغانو کور) نه لرودى يا تراوسه نه وى نومولى، نو د دې لپاره به موږ هم په پښتو کي د ژبې په بنسټ او سم انديز اړونده نوم لرودى يا ورکولى، دا چي دا د ناروغانو ځاى دى، نو موږ به دا نارغتون بللى وى. يا دا چي دا د شفا ځاى دى، کيدى شي رغنتون مو هم بللى وى. دا نومونه موږ له دې ژبو څخه نه رانيسو، بلکه دا زموږ په ژبه کي همداسي دي يعني ناروغ لرو او د ناروغ لپاره بايد ځاى ولرو، چي دا به ناروغتون شوى وى، زموږ مشرانو دا په هغه وخت کي دا د روغانو ځاى نومولى. دي ته دې پام وي، چي په ولس کي مو په پيداښتي يا طبيعي ډول داسي نوموني نه شته. که دا زموږ د پوهانو کار نه وي او په ولس کي منځ ته راغلى وى، نو باور وکړي، چي دا به د ناروغانو ځاى يا ناروغتون بلل شوى وى، خو دا زموږ د ليک لوست خاوندانو د شفاخاني او بيمارستان په ځاى نا سم ليکلى يا راوړي.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په دې نه غږیږم، چې دا ښه او که ناښه نوم دئ او ساپوهنیزې اغیزې به یې ښه یا ناښه وي، زه وایم، چې دا زموږ روغتون هم د ناروغانو کور یا تون دئ او نه د روغانو. لنډ: دا نوم موخه ور نه دئ.

د کورنیوچاروزارت: سم که ناسم؟

بله بیلګه یې د دننیو چاروزارت ته د کورنیوچاروزارت وایو، چې د کرورنیو چارو وزارت همباید ولرو.

داسې څه، چې نا سم ونومول شي، نو بیایې سمه ونه ډېر زور غواړي. له دې امله باید وهڅیږو، چې هغه څه هغسې ونوموو، چې څنګه دي یعنې د نوم څخه موخه یا شی باید روښانه جوت شي یا نوره هم ښه نوم باید له خوې څخه روښانه وي.

دا سمه ده چې درې نونونه سره څنګ په څنګ راتګ ستونځمن کیږي،خو دا مو ژبه ده اوپه خپله ژبه کې دا ستونځښنه دي.

بیا وایم: پښتانه چې څه ژبې ته را ننباسی باید دلیل یې راوړي. د کومې ژبې په پښتو کې

رانغوتي څه چې په پښتو کوو، نو په هغه پردئ ژبه هم باید پوه وو او بیا لږ تر لږه په هغه وي(لغات) موخه باندې هم له هره اړخه باید وپوهیږو.

یوه یادونه:

ما د علومو اکادمي، پوهنتون او په نساب کې د محترمو پوهانو څخه وپوښتل، چې عرب به کره څه ته وایي. هر یوه یې تعریف وکړ او ځنو به یې بیلګه هم راوړه لکه د ځمکې کره، خو په هغه معنایي چا فکر هم نه وو کړی. عرب د فوټبال توپ ته کره الفدم وایي ( زه هغه ګردئ ت نه شم لیکلی بخښنه دې وي) یعنې د پښو غوندوسکه. په ټولو ژبو کې دا همداسي ده، خو موږ یې د پښتو نوم څخه ډاریږو، ځکه چې په پښتو باور نه لرو، ورسره بلد نه یو، فکر نه کووو چې دا هم یعنې پښتو هم هر څه، چې نورې ژبې یې لري، لري.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه:

د اول ځل لپاره مي شميرپوهنه په پښتو کړې. دا په دې معنا، چې د لومړي ځل لپاره مي يوه پوهنه په پښتو کړې. دا نوي ګام دی او ستونځې يې هم همدومره ډېرې دي. له دې سره زموږ مشران ځکه شتونځې لري، چې هغوی دا نوې يا په پښتو څه، چې ورسره بلد نه دي، نه شي منلی او ځغملی، که څه هم زموږ کوچنيان او ځوانان په دې پوهيږي، د بيلګي په توګه، که تاسو يوه د پنځم ټولګي زده کوونکي څخه پوښتنه وکړی، چې مثلث څه ته وايي، نو درته وبه وايي، چې نه پ،هيږي او که هندسه باندې پوه وو، هغه هندسي تعريف به يې درته وکړي، خو که ورته ووايې چې درېګوټی يا درېکونجي يا درې ګوټی څه شی دی، نو درته وايي، چې هغه څه چې درې ګوډه، - کونجه لري او همداسې څلورکونجی، پنځهه کونجي او ...

موږ بايد پښتو نومونه او ويونه په ژباړه کې، چې زموږ له پاره ډېره غوره ده، هم وکاروو او پرې نه ږدو، چې د کاروني راڅخه پاتې شي، ځکه چې بيا ورکيږي. هغه څه چې لرو، هغه بايد تل استعمال کړو.

په ځنې ژبو کې د يو څه له پاره ، نه داسې نه ده، د يو څه د دوه لورو له باره مختلف نومونه شتون لري اوځنو دا يو نوم لري، لکه د عربي زاويه. په يوه ودانۍ کې همداسې په يوه پټي کې موږ دوه ډوله زايي لرو، چې موږ په پښتو کې د دې له پاره دننی زاويه کونج او دباندی زاويه ګوډ بولو.

په الماني کې هم دا دوه کونجونه توپير لري، خوپه انرېزي کې نه، لکه فارسي کې.

غمازه مه کوه بې ځايه او دا هسې هڅې ته مې له غيرې بيلولی جانا ن ګوره نه شي

که چيرې تاسو د کومې ژبې وي ګوګل کړی، نو زياتې معناوې به ترې لاس ته کړی، چې بيا ترې هغه موخوره نيول کيږي.

د بيلګي په توګه تاسو د out put معنا په عربي وغواړی، وبه ګوری، چې څومره معناوې لري.

## شمير پوهنه څه شی دي؟

يو ټيک ځواب به ډېر راتنګ اوموخه ور نه وي.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمیرپوهنه د درس یوه زړه، پراخه او ژوره پوهنه ده.

پیژند: شمیرپوهنه ( ماتماتیک یوناني نوم دئ او معنا یې د زده کړې هنر دئ) یو ه پوهنه ده، چې د ځکمککچیزو څیرو د څیرنو او د ګڼونو یا عددونو سره د شمیرلو څخه منځ ته راغلی. د شمیرپوهنې له پاره تولیز پیژندل شوي پیژند یا تعریف نه شته، نن په ورځني ډول د یوې پوهنې په څیر پیژندل ښوول کیږي، چې له خپله ځانه .........

د شمیرپوهنې سره خوراپیچلي جوړښتونه شمیرل کیږي.

## د شمیرپوهنې ژباړه او اړیینوالی یې؟

دشمیرپوهنې ژباړه هم د تخنیکي پوهنو په څیر د ادبیاتو د ژباړې سره توپیر لري او هغه په دې، چې د شمیرپوهنې په ژباړه کې د لیکونکي احساستي اړخ ته پام نه کیږي یا په ریاضي کې احساساتي څه نه شته. هلته همغه څه بیرته په خپله ژبه ورکول کیږي، د کلتور او نورو اړخونو ته د بام اړتیا نه لیدل کیږي.

شمیرپوهنه او دشمیرپوهنې سم اند یا – منطق د نخښو علامو څخه کار اخلي، چې زیات وخت ژباړه راساده کولی هم شي.

د بیلګې په توګه دا لاندې د زیاتون یوه بیلګه:

د هر دوه ګڼونو a,b د پاره چې پیداښتي یا طبیعي ګڼونو سټ N کې پراته یا له سټ څخه دي یو پیداښتي ګڼ یا عدد c شته داسې چې باور لري:

$$a+b= c$$

دا په شمیرپوهنیزه ژبه داسې لیکلی شو، چې له کیڼ لور و ښي لور ته لوستلکیږي.

$$\forall a,b \in N; \exists c \in N : a+b=c$$

بیا یې لوستل چې له کیڼ وښي لور ته یې لولو. د ټولو a,bله پاره چې د N توکي دي په N کې یوه c شته داسې چې باور لري:a+b= c

د شمیرپوهنې د ژباړې دپاره په پوهنتون کې د ژباړې لوستنه اړیینه نه ده، خو ژباړې باید په وتونژبه او موخه ژبه او همداسې په شمیرپوهنه واک ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شمیرپوهنه کې ستونځې: دا چې موږ شمیر پوهنیز ویونه ټول له عربي رانیولي او پرې پوهیږو هم نه، نو ماته دا اړیینه برېښي، چې هغه څه چې په خپله ژبه کې لرو په خپله ژبه ونوموو.

## تاریخ:

شمیرپوهنه یوه له خورا زړې پوهنې څخه ده. له انتیک څخه د مخه وخت کې د مسوپوتامی، هندي او چینایي او د انتیک څخه وروسته وخت کې یې په یونان او هیلینیزم کې خپلې غوټۍ وغوړولې. ښوونې (ثبوتونه) سوچه سم اندیزه یا منطقي وو، چې وروسته بیا اکسیمونه داسې په نامه د اوېکلید یا اقلیدس اکسیمون وو، چې په بنسټ یې ښوونې مخ ته بیول کیدې. . په منځنۍ دورو کې دا په عربو کې ژوندۍ پاتې او وده وکړه.

په نوي وخت کې بیا د مختلفو شمیرپوهانو له خوا د سطحو( هوارو) ، مربع ( څلوریو) او داسې نورو شمیرل د ښوونې لارې شوې. په ورپسې وختونو کې لا تراوسه دانورو ډېرو څانګو ته پراخه شوې پوهنه ده،

د شمیرپوهنې غوره والی:

شمیرپوهنه په ټولو پوهنو کې - له فزیک تر روحیاتو پورې – ځغلي او بې له شمیر پوهنې – داسې ویلی شو- د پوهنې هیڅ یوه څانګه وده نه شي کولی.

داچې مرغان څنګه الوزي او الوتکې څنګه پورته کیږي، د دې دمعلومولو او شمیرلو دپاره شمبرپوهنه دنده په غاړه لري، چې هغه امکات یې شمیرل کیږي. د نړۍ داننۍ وده اوپخوانۍ پوهنې هم ، بې دشمیرپوهنې ناشونې کیدې.

شمیر پوهنه خپله څه منځ ته نه راولي یني ماتول، جوړول یوځای کول نه شي کولی، نو له دې امله یې پیژند یا تعریف هم ستونځمن دی. ځنې پوهان وایي، چې شمیرپوهنه خپله پوهنه نه ده، بلکه مرستندویه پوهنه ده. د نورو پوهنو سره په وده او ښونو کې مرسته کوي.

په هر صورت شمیرپوهنه ګڼونو سره سر او کار لري، چې دټاکلو قوانینو له مخې ورسره شمیرل او ګڼل کیږي، لکه زیاتون (جمع)، کمون(تفریق) او یا لکه انتیګرال شمیرنه او داسې نور .

خبرې نورې را لنډوم اودا

**په اخر کې: زموږ له پاره ، چې ژباړې ترې وکړو، کومه ژبه غوره ده؟**
**غوره ژبې په ترتیب انګریزي، روسي، فرانسوي او الماني دي.**

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ډاکتر ماخان شینواري لیکنې:

<u>1988 Vienna (Austria):</u>

<u>لومړی:</u>

H.K. Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact pological algebra : general algebra 6 ; Page 117 – 122 contributions to

<u>1987 Vienna (Austria):</u>

<u>۲:</u>

Interpolation und Aproximation durch Polynime in Universalen Diss . Uni. Wien Algebren .

*Interpolation and Aproximation by Polynome in universal Algebras, Dissertation at the University of Vienna/Austria*

لاندې د شمیرپوهنې پښتوټول کتابونه په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له خوا چاپ شوي دي

<u>2000 Bonn (Germany):</u>

۳: د شمیرپوهنې ستر کتاب : د شمیرپوهنې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره ( دا کتاب په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې لیکنه به یې ځنو ځایونو غزېدلې او ځنې ځایونه ترې لرې شوي دي)

<u>2003 Bonn (Germany):</u>

۴: ځمککچپوهنه( هندسه) ، په سلو، زرو کې شمیرنه، د ګټې – او کټې د کټې شمیرنه ، د اختمالوالي شمېرنه کتاب د ښوونځي ټولې اړتیاوې پوره کوي

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



2003 Bonn (Germany):

۵:   الجبرونه ( د الجبر بنسټونه دي)

2003 Bonn (Germany):

۶:  د شمیرپوهنې   انګرېزي – پښتو ډکشنري.

2003 Bonn (Germany):

۷: د شمیرپوهنې الماني ـ پښتو- او پښتو الماني ډکشنري

*Mathematical dictionary German/ Pashto and Pashto/German*

2003 Bonn (Germany):

۸:  دفرنځيال برابرون  ( دا کتاب په دې ځانګه کې يو پيل   دی، ساده ليکل شوی)

*Differential equation Translation; An Introduction*

Bonn (Germany): 2003

۹: د شمير پوهنې فرمولونو ټولګه

*Mathematical Formulas*

2003 Bonn (Germany):

۱۰:   شمیرپوهنه له عربي په پښتو

1997 Bonn (Germany):

۱۱: د افغانستان په هکله سپيني خبرې:  په    المان کې

،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خو

.يادونه:    له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواري د ،،د افغانستان روغې او بيا ابادولو ټولنه،، له خوا درې ساسي مجلې هم را وستلې.

 Copyright www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډاکتر ماخان ،،میرې،، شینواري لیکنې او ژباړې چې په چاپیدو یې پیل کیږي

2012 Bonn; Germany; Kabul Afghanistan

ژباړې:

: *Prof. Brinkmann. (From Brinkmann.du.de)*

لاندې د برینکمن لیکنې چې له پرینکمن ن ج څخه ژباړل شوي دي.

۱۲ - شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک

۱۳ – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دویم ټوک

۱۴ – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دریم ټوک

۱۵ - د احتمالوالي شمیرنه د ښوونځي لپاره

۱۶ – احصایه یا ستاتیستیک دښوونځي لپاره

لاندې کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو څخه چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

۱۷ – انالیزی ۱

۱۸ – انالیزې ۲

۱۹ – کرښیز الجبر

۲۰ - د شمیرپوهنې بنسټونه

۲۱ - د فرمولونو ټولګه

۲۲ – فنکشنل انالیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۳ – وکتور شمیرنه

نورې ژباړې

۲۴ – له www./grundstudium.info/linearealgebra څخه:کرښیز الجبر

۲۵ – Georg Gutenbrunner  ګڼونپوهنه یا د اعدادو تیوري

زما لیکنې

Bonn (Germany):

۲۶ - د شمیرپوهنې ستر کتاب دویم چاپ لږمړیبرخه: د پوره تغیراتو سره : دا کتاب د شمیرپوهنې برخې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زدهکوونکو لپاره پوره ګټور دی. په کتاب کې د اړتیا سره زیاتونه او کونه راغلي

۲۷ الف- د شمیرپوهنې ستر کتاب دویمه برخه

۲۸ - ځمککچپوهنه ( هندسه) دویم چاپ د پوره تغیراتو سره

۲۹ – الجبر بنسټونه دویم چاپ له تغیراتو سره

۳۰ - ډیرۍ پوهنه یا سټ تیوري

۳۱ – د شمیرپوهنې سم اند ( منطق ریاضي)

۳۲ - د یو څو شمیرپوهانو ژوندلیک

۳۳ – د شمیر پوهنې ګډې وډې لیکنې

-۳۴ داهم ژباړه ده، خو لیکونکی یې متآسفانه راڅخه نابلد شوی: د مشتق او انتیګرال شمیرنو ته تمرینونه او اوبیونې یا حلونه یې

۳۵ – د شمیرپوهنې انګریزي پښتو او عربي + دري ډکشنري

۳۶ – د شمیرپوهنې پښتو انګرېزي ډکشنري

۳۷ – د شمیرپوهنې پښتو ډکشنري د شمیرپوهنیزو ویپونو په پښتو روښانه ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۸ - د زړه له کومې( دا هغه لیکنې دي، چې ځنې یې په نړیول جالونو کې خپرې شوي دي.)

۳۹ – د افغانستان په هکله سپینې خبرې، چې وبه غزیږي.

نوري لیکنې، چې په ژباړه یې پیل شوی، خو لا پوره نه دي

۴۰– د شتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپریږي: د ګروپونو تیوري

- د ښوونځي لپاره فزیک د برینکمن لیکنه

له پنځم ټولګي څخه تر اووم ټولګې پورې ژباړل شوی ( دا چې زما دویم مسلک فزیک دی، دا لیکنې ژباړم. دا هم د دې لیکوال یوه ډېره ښه لیکنه ده، چې -د شمیرپوهنې په څیر- دلته هم زیات تمرینونه د حل یا اوبیونې سره په کې راغلي او ماته زیات ګټور برېښي)

۴۱ - فزیک لومړۍبرخه

۴۲ – فزیک دویمه برخه. بربښنا پوهنه. همدا کتاب.

۴۳ – د پوهنې وزارت له خوا چاپ د ښوونځي شمیرپوهنې کتابونو ته کتنه.

۴۴ – پرېپوزېشنونه.

۴۵ – د نه لرلوویونو ناسم بلل. همدا کتاب

دا کتابونه پرته له یو څو نور نردې ټول په www.ketabton.com کې د کتلو له پاره پورته شوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال ژوند ته لنډه کتنه

ماخان په اولني نوم میرړي شینواری د اروابنادې پستو او اروابناد نوررحمان زوي په ۱۳۲۰ ؟ ه لمریز کې د شینوارو هسکه مینه کې دې نړۍ ته سترګې راغړولې.

د هسکې مینې د لومړنې ښوونځي (د لومړنیو زده کوونکو څخه ) څخه وروسته

د رحمان بابا لیسه له ۱۹۵۴ تر ۱۹۶۵ پورې( ښوونځي له لومړي ټولګي پیل او د دویم ټولګي څخه ګام او پای). د ۱۹۶۶ تر سپټبر د کابل طب پوهنځی. له ۱۹۶۶ سپټمبر څخه د اتریش برس، چې هلته یې د شمیرپوهنې ډاکټري په پوره ستونځو تر لاسه کړه.

د۱۹۹۸۷ ش ک تر ۱۹۸۸ د فبروري تر پای د دباندنیو چارو وزارت کې مامور.

د ۱۹۸۸ مارچ څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بن کې د افغانستان جمهوریت سفارت شارژد افیر( صفر نه وو).

له هغې وروسته په جرمني کې سیاسي پناه. له ۲۰۰۸ مارچ څخه د ۲۰۰۹ دسمبر پورې د د ریاضي څانګه کې د پوهنې وزارت درسي نساب کې دنده.

ماخان میرړي په ۱۹۷۲ کې له لرې د میرمن ښاپیرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتریش ته راغی.

ده د میرمن ښاپیری سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي څښتن په اتریش ویانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچیان وبخښل، چې څانګه او اباسین نومیږي. څانګه په المان کې د پوهنتون علمي همکاره وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسین ملي اقتصاد او ټولنیزه سایکولوژي لوستلې.
ماخان شینواري بې کاره نه دی او لږ تر لږه له ۹۷ ۱۹ څخه همدا د کتابونو لیکلو او د ژباړې دنده په غاړه اخستې، چې خپل فکر تر شونې پولې پورې تازه وساتي.

 Copyright www.ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**